د حبیب الله دیوان

د

حبیب الله دیوان

سریزه، سمون، لغتنامه او

رښتونه

د

څیړنمل محمد عارف غروال

خپروونکی

د افغانستان د علومو اکادیمی

د ژبو او ادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز

پښتو ټولنه

۱۳۶۰

PROPERTY OF ACKU
2109

حبیب الله او د هغه دیوان

د پښتو په قدیمو شاعرانو کې حبیب‌الله داسې شاعردی ، چې زموږ ادبي محافل ئې و روسته له نامه‌سره آشنا شوی‌دي‌او پښتوتذکرو ته‌ئې ډیره وروسته لاره‌پیدا کړې ده .

پوهاندصدیق‌الله خان رښتین لومړی ځل په ۱۳۴۳ کال کې د حبیب‌الله او دده‌د دیوان په باب څه و کښل،اوپه کابل مجله کې‌ئې‌لیک پرو کړ (۱) د پوهاند رښتین دلیکنې له‌مخې‌څیړندوی عبدالله بختانی په پښتانه‌شعراءڅلورم ټوک(۲) کې دده‌سوانح راوړې، اود کلام هغه نمونې چې‌ئې‌په کابل مجله کې چاپ شوې وې، ده‌هم‌په خپل کتاب کې واخیستې. دهمدغه کتاب‌له مخې‌یې په«فرهنګ زبان و ادبیات پښتو»(۳) کې‌هم یادونه راغله .

له دغو دریو یادو شو و منابعو پرته مانورچیرې د حبیب‌الله په باب څه‌نه دي‌لوستې، ښائي‌څینو نوروښا غلوبل ځای څه پرکښلي وي‌چې‌زه نه‌یم پرې‌پیښ شوی .

---

(۱) کابل مجله د ۱۳۴۳ کال ۷ ګڼه ، د ډیلي دملي موزیم پښتو نسخې د پوهاند رښتین مقاله .

(۲) پښتانه شعراءج ۴ ص ۹۶۰ - ۹۶۸ د ۱۳۵۵ کال چاپ د ۱۳۵۷ ش کال خپرونه پښتو ټولنه.

(۳)فرهنګ زبان و ادبیات پښتوج ۱ ص-۲ ، ۱۳۵۶ ش کال چاپ .

په د غولیکنو کې داښو ول شوی، چې حبیب الله اصلاً کندهاری دی، په پیښور او کابل کې هم اوسیدلی دی؟

د ده د کندهار یتوب په باب د غوښاغلو د حبیب الله د دیوان د «ه» د پټې پر دغه لاندې قصیده استناد کړی دی :

نن به و ایم خوخبرې آه ارمان دی کندهاره

بې خوږې ښایسته نادری آه ارمان دی کندهاره

مګر د غوښاغلو ته دانه وه معلومه چې په همدې وزن د «و» په پټې کې شاعر بله قصیده هم لري چې هلته یې د پیښور خمکنې په همدې توګه یاد کړې دي :

نن زما زړګی پریشان دی آه ارمان دی خمکنو

تل یې غواړي په جو یان دی آه ارمان دی خمکنو

لکه چې هغوښاغلو دی د کندهار په یاد کې دو یلې قصیدې له مخې کندهاری بللی نو موږ ئې اوس باید د پیښور د خمکنو بولو، حال داچې زما په خیال دغه دواړه نظرئې د تأمل وړ دي .

خبره داده چې حبیب الله ګرځندسړی ؤ، کابل او کندهار ته هم راغلی ، او د هند پر لتوهم ګرځیدلی دی. د کابل "دلار و سختې په لاندې نیم بیتی کې داسې یادوي:

سختې لاری د کابل دي، ښه داشو په تیریدل د ي .

بل ځای ئې کابل او پیښور دواړه داسې راوړی دی :

زه حبیب چې آشنانه وینم په سترګو

پیښور را ته تنور شی تر کابله

خو د غوتولو شواهدو تر ځنګه داخبره په یقینې توګه کولای شم، چې د حبیب الله د زوکړې او استوګنې ځای له خیبره تراخکه په پرتولتوکې دی ، ده په

خپله و یلی دی :

چې ته نه ئې په ما غم شی   له خیبره تراټکه

حبیب الله ددولسمی هجری پیړی په حدو دو کی ژ و ند کړی دی او د لوی احمدشاه بابا د پاچا هی د(۱۱۶۰-۱۱۸۶ ه ق) ز مانه ئې دشعر د عروج مهال گڼلای شو. ده د کندهار دستاینی په قصیده کې لوی احمدشاه بابا او اشرف الوزرا عشاه ولی خان (بگی خان) داسی ستایلی دي:

چې بادشاه ئې ډیرعالی د ی بیا دویم ئی شاه و لی د ی
مستقیم پر خپل و لی د ی آه ار سان د ی کند هار ه
چې دوی د ي د مجلس شمع عالمونه د ی پر ې جمع
له هیچانه کاندی طمع آه ار سان د ی کند هاره
که دوی نه وای پیداشوی، خدا یزده خه به واوس شوي
دوی لبیب دعدل شوی ، آه ار سان دی کندهار ه
احمد شاه د دین پاد شاه دی ټول عالم د د ه نیکخواه دی
شاه و لی یې پشت پناه دی ، آه ار سان د ی کندهاره
احمد شاه دې نه کا خدای د بدا نو په بدرای
دی بادشاه دی په هرځا ی آه ارسان دی کند هار ه
دده عمر دې در از وي، چې د هر یوه په ر از وي
هر سړی پری سرفراز وي، آه ارسان دی کند هار ه
خدای دی و ر کا سلطنت تا به ر و ز به قیامت
له د ښمنه فراغت ، آه ا ر سان د ی کندهار ه

حبیب الله دخمکنو دمیا عمر (رح) (دخمکنو میاصاحب) (۱۰۸۰-۱۱۹۰ ه ق) دمریدانو او ارادتمندانو له ډلی څخه دی، حضرت میاصاحب ته یې په خپل دیوان کی د

عیقدت گاونه و راندې کړي دي، ده یوځای و یلی دي :

اوس زمونږ په زمانه ،سیاصاحب دی رندانه
دی خونه خوځی له خانه آه ارمان دی خمکنو
چی سخی دی هم پارسا ، تمه نه کاله هیڅا
ښه ئې کړی ده تقوی ، آه ارمان دی خمکنو
که خوک و رکاندي دنیا هیڅ یی نه وي پرې پروا
که امیروي که بادشاه ،آه ارمان دی خمکنو

سربیره له دغسی یادو نوده په دیوان کی خینی داسی پارکی هم شته چی دوخت خینو اجتماعی نیمگړتیا و وته پکی نغوته شوې ده، ده په یوه قصیده کی چی مطلع یې ده :

« خه به سی پوښتی د پیښور له عاملانو
خوک چی و رله و رشی غوښی خوری د غریبانو»

خینو زیاتو اجتماعی ناخوالواو دحکامو نا دو دوته په انتقادی توگه نغوته کړې ده چې خوبیته یې لاندې کاږ م :

نه شی پیژندلی چی راغلی د لته نه وي
ناست وي په خپل کورکی په مشال د بند یوانو
گوره چی راکوز شی له کابله پیښور ته
ښه سردمعقول سړی و هی په چوب دارانو
داچی زمیندار وي هغه کاهسی کارونه
خه به درته وایم له پیاده ضلع دارانو
ډیر ضلع داران سی دي لیدلی که باور کړې
ډیرو هل ښکنځل شی ډیر تړل شی له سگانو

لری یی له کلی کا چی بـه دې ادا کړم
ناو ړی لا په مخه مخه شی د اربا بانو
جور و که جفاو که ښکنځل دی واړه تیر کا
راشی ځان داخل کا په قطار د پیاده گانو
څه به درته وایم خپل احوال چه په ما تیر دی
خدای سی دې نگاه کا پس له دې د غمازانو

د ده په دیوان کی داجتماعی دموضوعونوله بیان سربیره ځینی نور، تصوفی اودینی سوضوعات هم راغلی چی دلی ئې دبیلابیلو سرلیکونو لاندی یادوم:

دحبیب الله په دیوان کی نصایح او وعظیه کلام :

دپخوانیوشاعرانود کلام ستره برخه و عظاو نصیحت ته وقف شوې ده، داجتماعی عشقی او تصوفی اشعارو په څنگ کې ئې دغه برخه کې هم دخپل فکر نیلی ځغلولی دي. دی صوفی مشربه شاعردی چې د همدی مشرب د پیروی په رڼا کې په تصوف کی داسی و رننوزی :

ای حبیب الله، سردې دې داده که پوهیږی
و ر که کړه له سیانه و حضرت ته دتن پوله

اوس به و گور و چې صوفی شاعر نورخلک څنگه له ناوړه اعمالونانه را گرځوی اوسمې لاری ته یې په څه ډو ل الفاظو رابولی :

ته چې پیدا شوي یې له ځمکی خاکساری کړه
مه شه نامعقو له د زمري په څیر گزند

گوره چې پوځونه اوس همیش پرې باندی د رو سی
ښه ښه بادشاهان چې وو آسمان غوندی څرگند

په پورتنیو بیتونو کې سوړ و ینوچې شاعر په زور و باندی ظلم کول غندي او انسانان تواضع او خاکسارۍ ته رابولی.

اوس به د حبیب الله یوه هغه غزله وړاندی کړو چې په هغې کې ناوړه عملونه غندل شوي او انسانانو ته بلنه ورکړل شوې ده چې خپلو ټولنیزو نیمګړتیاوو ته پاملرنه و لري او له ناوړه عملو څخه راوګرځي چې د همدی غزل په وړاندی کولو سره دده وعظیه کلام پای ته رسوو:

وایې وره په غوږ و د رته وایمه بیان

ګوره چیرۍ نه وي چې په کړو شي پښیمان

عقل خدای د رکړی دی غافله ولی ناست یې

پاخه په اخلاص کوه کارونه د انسان

پورته پورته سه څه سرکوزي کوه که مردیې

ځای دی ستا په ځمکه نه په پورته په آسمان

بدګناه غیبت دی ګوره بیرته ځینی ګرځه

فهم کړه هوښیار شه چې د یو نه شی نقصان

بده بخیلی ده هر بخیل د خدای د ښمن دی

مه وایه چې به دي که هرڅو وي زاهدان

درومه که میړه یې سخاوت د ځان پیشه کړه

خدای دی نازولی په طاعت سره سخیان

لاس که دې رسیږی ډیرکوښښ پرې وکړه

چیری چې بندی وي ناپوه شوی په زندان

ورکړه کوه ډیره چې دې زیاته خزانه شي

خدای به درله درکا نعمتونه د جهان

و ر کړه په سوال کې هرچې لاس ته ي باندې رسي
مه رټه په سوال سره عاجز و فقیران

پیا زکات ادا کړه که دې سال کامل نصاب وي
نمونځ ، روژه په وخت کړه هم مکې ته شه روان

ییر ته له گناه او سه عـا قله که مسلم یې
غا ړه و رته کښېږده په و یلو د قرآن

خای به دې جنت شي که و یل ز ما قبول کړې
خدای به دې ژ نگاه کاله عذابه د نیران

کله پاته کیږ ی په د و ز خ کې جا و دانه
هر چې له د نیانه وي و تلی با ایمان

ای پـا که ر سوله شفاعت ز مـو ږ ه و کړه
هلته په حساب کې چې ولاړ یو حق حیران

ای حبیب الله دخدای ،ر سول په لار ه در و مه
خدای به د ر له در کا نعمتونه و ر ضوان

دحبیب الله په دیوان کې دملمع شعرو نو و نه :

د پښتو ژبې دا کثرو شاعرانو په کلام کې موږ و ینو چې دخپلې مورنۍ ژ بې په څنگ کې په نور و ژ بو کې هم شعرو ا ئی او د پښتو او نورو ژ بو گډ شعرو نه خودودی کلام کې ز یات موندل کیږ ی .

په بله ژ به شعرو یل او دبلې ژ بې الفاظ ، لغات او کلمې دشعرپه قالب کې سره غونډول داسې آسانه خبره نه ده داځکه لومړی خو یې باید پردۍ ژ به زده وي چې ځکه خپلې مورنۍ ژبې غوندې بې تکلیفه پرې خبری و کړای شي،او دوهم باید

په پردي ژبه کې دوسره و اردوې چې دهغې دالفاظواو جملوتحلیل ورته داسې آسان وي لکه دخپلې مورنۍ ژبې چې ورته آسان وي .

نوچې پښتانه شاعران داکار کوي هروسرو په هغه پردي ژبه دوسره ورنوتي وي چې لکه خپلې ژبې غوندې په هغې باندې غلبه ورته حاصله ده، او داکار دوی دهغه ذاتي استعداد نمایندګي کوي چې ددې قوم په خټه کې اخښل شوی دی .

حبیب الله چې ددو لسمې پیړۍ ددوهمې نیما ئي دوخت شاعردی. همدغه لاریې تعقیب کړې اولکه څنګه چې دپښتوشعر وائې دغه شان دري او اردو شعرهم ورته آسان دی. خوشحال خود پښتو دري او اردو ژبوګډې غزلې هم دده په دیوان کې سوندل کیږي، نوسوړ په زغرده ویلای شوچې حبیب الله لکه څنګه چې دهغه وخت په سرو جوعلوسوښه پوهیدو او هغه ئې زده کړې وو، دغه شان ئې په نورو ژبو کې هم ځان تریوه ځایه رسولی و. د دې مدعا د ثبوت له پاره غواړو دده دهغوغزلونوځو نمونې دلته راوړو چې یا خویې په فارسي او اردو ویلې دي او یایې دملمع اوشیروشکرپه شکل راوړې دي، لاندې غزل پښتواوپارسي ویلی دی:

آه افسوس که درعشق توان خار کجاست
غم ناتار کړل عالمونه این ګوزار کجاست

نمیکند دل هوس سوی ګلستان ای دوست
وخت دخوښۍ دی یاردې چیری نوبهار کجاست

من ز غم خوشدلم و ګرنکند یار نظرسوی رقیب
مه پریږده دخدای روی دی سیاه سار کجاست

نیست امید برین حسن اګرسی نازی
څه لره نه کوې و فاهمیش قرار کجاست

اولاندی غزل ئې په دری،اردو کی و یلی دی :

بر عاشقان نظر نکند یار کیا بلاهی
سیرفت خون ز کشتهٔ بی‌ما کیا بلاهی
ای‌دوست وصل توست گلستان بمن غریب
و الله که ماسوای تو گلزار کیا بلاهی
مشک و گلاب و عطر ز زلفین توست یار
دیگر خریدم مشک زعطار کیا بلاهی
چون میر وی به سیل زحیرت فتا ده ا یم
مارا ببرر قیب سگ اغیار کیا بلاهی
آمد حبیب که توبه کند ا زغرو ر و کبر
دیگر طرف ز کوی تور فتار کیا بلاهی

لاندی غزل یې په پښتو، دری‌او اردو کی و یلی دی :

افسوس که درعشق توسن جان و مال کمایی
هرڅو که پسی فکر کړم یادمیره نه آیی
این فرقت بعید که حاصل شده ز یار
دااورنې د هجران‌دی‌گوره جان‌میراجلایی
من چون خراب مست شدم در فراق یار
و الله چې‌زه‌یی‌چور کړم پیرمیری‌من منائی
در کوی تو عاشق به مثل برگ نه ارزد
خاوری‌په‌سخ په سترگو دعاشق‌ځکه ملائي
و الله حبیب مرده دل است یار جان من
تا چه ترخنگه سپی رقیب کړ مدام بهایی

او په لاندی بیتونوکی و ینوچی د پنځ کتاب ایداغ یی څنګه ښه تضمین کړی دی :

من سیکنم ز هجر توګر یه و ناله را
میر یختیم اشک چود رها و ژاله را
غم سیخوردیم دردل توچون نواله را
ایداغ بردل از غم خال تولاله را
شرمنده ساخت آهوی چشمان غزاله را
جانم یقین که درغم تو هست درد من
افتاد لرزه بین تو بر اعضای مرد و زن
بر کشتګان کنید نظر رحیم جان من
ازا نفعال لعل لبت لا له ، د رچمن
دیګر بد ست خویش نګیرد پیاله را
دحبیب اله په دیوان کې ادبی صنایع

د حبیب الله د کلام لوړی ښه والی ساده ګی روانی اوسلاست دی. دی په داسې ژبه خبری کوي په کومه ژبه چې رحمان بابا غږیده نو ځکه ئې کلام عام فهمه اوبی تکلیفه دی، لطافت اوسادګی کی ښه مضمون بیانوی. د شعر د ادبی صنایعو اوبدایعو په بیانولو کی دوخت له نورو شاعرانو څخه بیرته نه دی پاتې د دی دپاره چې دده د کلام له ادبی صنایعو سره هم بلد شو لاز مه ده چې دنمونی په توګه ئې د کلام په هغو برخو خبری وکړو چې ادبی صنایع ئې پکی ځای کړی دی .
و ګوری چه په لاندی بیتونه کې یې تشبیه په څومره لطافت را اوړیده:

ته یو ګل یې په چمن کې
زما زړه دی عند لیب

څه لره سې و ژني په غمزو کړي ګوزار و نه   بې تیغه حلال یم په محیط کې لکه کب

په لاندې بیتونو کې یې حسن طلب په خوږه ښکلو الفاظو کې راوړی دی:

څه خورایشه زما په حال نظر کړه   ای تر درست جهان و ماو ته راتیره

نار و اشه که بې تاسې څه تیر یږي   نور څه ، څه دي خصوصاً له یوه بیره

په دې لاندې بیتونو کې یې مکرر تجنیس کتلای شيء:

په آسانه د ساقي پیاله د ه چیری   ځو قبول نکړي په زړه ددلدار دار

که ژړا حبیب الله کاګرم ئې مه کړه   په خاطر یې مدام ګرځي بسیار یار

په لاندې بیتونو کې المدح بما یشبه الذم څه ښه بیانوي:

و درهچې زړ ر کړم خپله خوا کړم باندې یخه

ښه سینه دې تخت ده څه نادره ده عجب

رایشه د لبره چې سور دوړا ه سره و کړو

و اریه و ار خبری چې حاصل موشي مطلب

پرانیزه محبوبي چې سي زړه و ر باندې ښه شي

شونډې دو اړه خپلې کلام و کړه منتخب

وسي در او ه تاته که نه راشي باندې سپور شې

ښه عراقي آس د ی جوړ و لی د مرکب

پرانیزه و ساته چې یې و ګورم پخپله

خرنګ دې کاغذ دی چې ته څولري منصب.

حبیب الله په خپل کلام کې سوال او ځواب هم په ډیرو ښوادبي الفاظو کې بیانولی شي ، لکه په لاندې بیتونو کې ئې و ینو :

ده وې سخته زما ګوره ماوې سترګي په لیمه   ده وې مکړه نوره مینه ماوې سترګي په لیمه

د، وېښځ سې ښايسته دی ماوی مړه دې عاشقان کړه

ده وې مه درو مه ترکوره ماوی ستر ګی په لېمه

ده وې تور بانه سې څه دی ماوې غشی لاجبري دی

ده وې ولم دې په زوره ، ماوی ستر ګی په ليمه

ده وي اخه لره فسوس ماوی ستاد عشق لمبی دي

ده وې ځان ژغوره له اوره کړې، ما ستر ګی په ليمه

دغه زنګه حبيب الله په خپلو اشعاراو کې د تلميح په توګه پخوانی پيښی يادوی او خپل کلام ته د تلمتح په راوړلو سره زيات ښکلا ورکوي چې دغه شان څو بيتونه بېله هم په لاندی کرښو کې وړاندی کړو:

ګوره زليخا چې دا عاشقه په رښتيا وه

نښه يې کمال وه چې ئې بيامونده مولا

ډير هند کې رادر وسی پيښور و هم کابل ته

کله د چايا ددي بې له هيره له رانجا

* * *

نور عاشقان و اوړه همګی تر دنيا تير شول

وااړ مو وداهسې که مجنون ؤکه فرهاد

ګوره پادشاهان چې يې دعوه د سلطنت کړه

څه يې شول مالو ته خزانی وې که قباد

* * *

دا باران د پشکال دی په ماوري

که نازل سې په صورت د نوح توپان دی

د پښتنو لرغوني ادب چې سړی مطالعه کړي او د پخوانيو پښتنو شاعرانو په اشعارو نظر واچوي هرو مرو داسې بېتونه مخې ته ور ته راځي چې د هغه وخت یادځینو پخوانیو شاعرانو یادونه پکې شوي وي، یا یې ستاینه کوي یا یې له خپل ځان نه ټیټ بولي او یا خوېې د شعري مناظرې په توګه یادوي چې د غه لار حبیب الله هم تعقیب کړې او په خپلو اشعارو کې یې د پښتو ژبې د هغه وخت دو تلواو پیاوړو شاعرانو یادونه کړې ده. دی له هر چا نه د مخه رحمان بابا ته ژیاته عقیده لري، څوځایه یې په درناوي یادوي او حتی خپل ځان دده پیرو بولي د مثال په توګه لکه په لاندې بیت کې چې وینو:

دحبیب و یل په داسبب شرین شول
چې تابع په ګفتګو کې د رحمان شو

او یل ځای دده اشعار له خلل او ګوتې نیولو څخه پاک بولي وایی:-

دخلل ځای پکې نه وینم هیچیرې
چې نظر وکړم په شعر درحمان کې

دی چې د رحمان معجز کلام وینی د حیرت ګوته په خوله کوي او خپله شاعري ورته هیڅ معلومیږي نو خپله شاعري داسې ردوي:

څه به لاف حبیب الله د شاعرۍ کم
چې رحمان غوندې شاعر تر دنیا تیر دی

حتی یونس هم چې دهمدې زمانې و تلی او دنوم خاوند شاعر دی له رحمان بابا سره یې په یوه ردیف کې راولي او خپل ځان له دوی دواړو څخه ټیټ بولي او وایي:

څه به لاف حبیب الله د شاعرۍ کا
که څه لاف کا یا یونس یا به رحمان کا

حبیب الله خوشحال خان ختک ته هم ډیره عقیده لري او دی له ټولو شاعرانو نه لوړ بولی او په لاندې بیت کې دده لوړ مقام داسې بیانوي:

بل شاعر هسې کله معلو میږی
ځکه کاحبیب الله ،آفرین خوشحال ته

حبیب الله لکه څنګه چې رحمان بابا یونس او خوشال خان ختک ته عقیده لري او دهغوی دکلام ستاینه کوی دغه شان حمیدمومند او قادرخان ختک له خپل ځان نه ښکته بولی او دخپل کلام ستاینه کوي او خپل ځان او کلام ته ددوی پر کلا برتری ورکوی لکه چې وائی :

د حبیب الله و یل خوارهدی
له مومنده له ختکه

داچې حبیب الله په پورتنی بیت کې «مومند» او ختک یادوی او خپل کلام دهغوی څخه ښه بولی ددې مطلب دانه دی چې ګوندې ددمراد به رحمان بابا او خوشحال وي. بلکه له دغې وینا څخه د ده مطلب قادر خان ختک او حمید ماشو خیل دی داځکه چې له یوې خوادی رحمان باباوخوشال خان ختک ته زیاته عقیده لری او دوی دواړه له خپل ځان څخه لوړ بولی او په خاصه توګه خودرحمان بابادلارې په پیروی افتخار کوی اوهم له خوشحال خان ختک سره بل شاعرنه برابروي، اوله بلې خوامونږ وینوچې قادر خان ختک په ډیرو ځایونو کې خپل ځان ته قادر خان نه بلکه ختک لیکی او هم د هغه وخت زیات شاعران دحمید لپاره د مومندلقب استعمالوی نوله دې څخه مونږدانتیجه اخیستلای شوچې له پورتنی وینا څخه دحبیب الله، مطلب قادر خان اوحمیدماشوخیل دی. دمثال په توګه به په لاندې بیتونو کې مونږ په ګوته کړو چې قادر خان ځان ته د ختک او حمیدته شیداد مومند لقب استعمالوی پخپله قادر خان وایی :

زه ختټک دیار په غم تازه نازشوم
غور یاخیل رحمان کهشو رخنی ستړی

بل ځای وایی:
و کړه په خواز ختټک کرم شمار، یی په کشتګانو کړه .
شمار ئي په کشتګانو کړه و کړ په خوارختټک کرم
دغه شان شیدا هم حمیدماشوخیل دموند په نامه داسې یادوي:
پدی وخت کې که شیدادو اړ دموسندو ای
ثناخوان به ؤ هردم ستاد ویلو ...
دحبیب الله د دیوان نسخه:-

دحبیب الله د دیوان یواز ینی خطی نسخه دډیلی په ملی موزیم کی شته، چی هوری ئي نومره ۱۸ ده. دغه خطی نسخه دټونک دنوابانو وه، چی بیا وروسته دډیلی ملی موزیم ته راوړل شوې ده .

نسخه ټوله ۱۷۷ مخه ده، او دګل محمد پېښوری په ښکلی خط په ۱۱۷۵ هق کال دخمکنو دمیاعمرصاحب (رح) دمشرزوی محمدی صاحبزاده (۱۲۲۰ هق مړ) لپاره لیکلی شوي ده، او د دیوان پای ته کښل شویدي :
«تمت تمام شدنسخه دیوان حبیب بحسب فرمایش و ارسال حضرت صاحبزادهٔ خمکنی میان محمدی جیوسلمه الله تعالی چهاردهم جلوس سیمنت مانوس احمد-شاه پادشاه درانی بتاریخ بیست و ششم ماه صفرسنه ۱۱۷۵ هق ازدست فقیر گل-محمد پیښاوري باتمام رسید »
دحبیب الله په د یوان کی ټول ۱۶۶ پاڼی خوندي دي په دغو پاڼو کی قصیدی غزلی او مخمسونه راغلی دی .

د دیوان پەخطي نسخه کي ترمخمساتو و روسته یوه الفنامه، او په الفنامې پسې یوه بله منظومه رساله هم شته، چي البته دغه د ٥ و روستي اثر هم په ١٦٦ پاڼو کي شامل د ي حبیب الله خپله الفنامه دغزلو په چوکاټ کي و یلي ده، یعني داچي دالفبې د ټ غونو هرګرافیم ئي په یوه غزله کي شرح کړی دی، خوستأسفانه چي د غه الفنا مه په نسخه کي ناقصه راغلی، او د «ز» ترپټې پوری راغلی، نور ه و رکه ده.

په پښتوالفناموکي دغزلو په چوکاټ کي و یل شوي الفنامې ترحبیب الله دمخه هم شته چي زمادمعلوماتوله مخي یې قدیمه دمرزاخان اوربړ (١٠٣٠ هق شهید) ده. ترالفنامې وروسته یوه بله ٣٧ بیتیزه رساله خوندي ده چه شعري فورم یې د قصیدې په قالب کي دی، خو په پښتنانه شعرا کي یې دغه رساله مثنوي بوولی ده؟

د دغې رسالې نوم «دولس خبرې» دی، او حبیب الله خپله رساله داسې یاده کړې ده:

نقل د کتاب دی مایي کړی دی بیان
جوړ ګویا و اجب دي چي په یاد یې کا افغان
یا رؤ د رسول چي نوم دده کعب الاخبار ؤ
ده دی دا و یلی که پوهیږی مو منان
ماو کوت توریت دولس خبره مې حاصل کړل
واړه معرفت دی په کاغذ ښکلي عیان

د «دولس خبرې» په نامه یوه بله پښتو رساله دلیننګراد داسیائی او اسونود انستیتوت په خطي کتابو کي هم شته چي ښاغلي کوشیف په خپل فهرست کي معرفي کړې ده. دحبیب الله د دیوان دخطي نسخي مایکرو فیلم د ډيلي له ملي موزیم څخه پښتو ـ ټولني ته دنورو ډیرو مایکروفلمونو سره د هندوستان پخواني جمهوررئیس دوکتور ذاکرحسین د تحفې په ډول راوړی ؤ.

پښتوټولنې په (۱۳۵۵ کال) کې له مایکرو فلم څخه ددغه دیوان د نقلولو اراده وکړه په همدې اساس ئې د ا د بیاتو په څانګه کې زه او ښېرنیاز وټاکلو اودغه کار لپاره و ګومارلو، موږ دغه دیوان له مایکرو فلم څخه را نقل کړ.

نقل موبیا له سره مقابله او کره کړ اوو روسته ماله بیرته پاکنویس کړ، چې دادی اوس تاسې ته وړاندې کیږي. سربیره، فهرستونه لغتنامه ئې ما هم برابر کړې دي.

په درناوی

ښیرنمل محمد عارف «غروال»

بسم الله الرحمن الرحيم

الف نوم دی ثابت شوی دمولا ‎ ‎ عالمونه یې عاجز دي له ثنا
ده «الست» دي «بربکم» ویلي ‎ ‎ هرارواح پرې معصوت شو چې بلا
ګوره څه یې دي و یلي ورسول ته ‎ ‎ سه آیت دی معتبر قل هو الله
دآدم خبرې کیږي څه عجبي ‎ ‎ چې یې داځواب ۇ کړی ربنا
هم په دا سبب ابلیس لعین مردود شو ‎ ‎ چې ځواب یې ۇ ور کړی په خطا
چې شبان ۇ بې غصې رحمت یې ډیرۇ ‎ ‎ تل یې راځۇ له الله د موسا
هم انسان دی چې مکان یې دی ور کړی ‎ ‎ له زمینه په آسمان کې دعیسا
ګوره خضرته یې عمر څو ور کړی ‎ ‎ چې به پا یې تر قیامته ابدا
موکل دی دبرو نو خوږ وندی وي ‎ ‎ ډیر عالم یې دی ساتلی له بلا
چې یې ذبح کړ ورغوسی په عوض کې ‎ ‎ اسماعیل لره یې ورکړه ترې نجا
ګوره څه کار ونه کاله عقله لرې ‎ ‎ چې آسمان یې کړ بې ستنو استوا
پرې افتاب راخیروي مدام په صبح ‎ ‎ بیاسر کوزی یې پر یباسي هر بیګا
دمهتاب وحال ته ګوره چې څه کا ‎ ‎ پریکاوه شي همیشه په وا ویلا
آسمانونه یې اووه دي پیدا کړي ‎ ‎ پرې یې عرش دی و در ولی څووالا
جنتونه، دوزخونه یې پیدا کړل ‎ ‎ که نیکی کوې جنت شته حاضې ستا (۱)

---

(۱) په اصل کې «دستا» لیکل شوی دی .

د بدانو ځای د و زخ د ی له عذابه   چې یې کړي د ي کار و نه د زنا

چې سنهي کار و نه کاځای یې دغه دی   که ظالم که شراب خور دی که دغا

و لې فضل یې عظیم دې چې تایب شي   دی رحیم عفو ر الله په هر «هر» چا

ستر ګې و خو رې اې انسانه بوالهو سه   و لې نه کوې طا عت په دا دنیا

نصیحت «حبیب الله» ځله کوې ته

(۱)   تـه پخپله تو به ګار شه له ګنا   (۲۰)

پس له حمده وایمه درود دمصطفا   شک پرې مه کـو ه اعلی شـو مصطفـا

دی ؤنبی (۱) شوی چې عالم آد م لا نه ؤ   دین یې لا ر و ښان دی چې فناشو مصطفا

هر چې پخواتر ده تورات ؤ که انجیل ؤ   واړه یې منسوخ کړ ل چې پیدا شو مصطفا

دا کلام یې ګوره چې کلام ر باني دی   د رست جهان پیدا دی چې پیدا شو مصطفا

دی لا پیدا نـه ؤ چې اسلام ظهـورو که   ښـه معجز ه وه چې بالا شو مصطفا

داسې «یې» ویل چې تښتېده به په وطن   دین سودی باطل چې په رښتیا شو مصطفا

شک پرې چیرې مه کوه چې دین به یې باطل شي * څه شو که یې کوچ که، په بقا شو مصطفا

شورو غلبه هسې پید اشوه په سلکونه   کفر یې منسوخ کړ چې ملاشو مصطفا

تل به تښتېده ابلیس لعین له پا ک ر سوله   چیرې چې ګویا په لاحـو لا شو مصطفا

ده هم ژوندی کړی وو د ډیرو کالو مړی (۲)   ځکه معلی پـه مسیحا شو مصطفا

دی چې و معراج و ته روان شوله جبر یله   پاتې په خپل ځای شو ترې جدا شو مصطفا

واړه ملائک و آسمانو ته ترې را کوز شول   ده له خدایه راز کړ یک تنها شو مصطفا

زه کله توانیږمه د ده په تعر یفو نه   خدای دی ښه ستایلی د رست ثنا شو مصطفا

---

(۱) اصل: د «نبی» پر ځـای »وسني لیکل شوی دی . (۲) په اصل کې «مړی» نشته

خدای ذي دحبیب له ستر کو اوښي وچي نه کا *ته يي قبلوونکی د دعاشو(۱) مصطفا
تل حبیب الله ژ ار فر یاد کاستا په سینه

(۲) غم يي د مجلس کا چي اعلیٰ شو مصطفا (۱۵)

پس له دي به ستایمه اصحاب د مصطفا   و اره دي راغلي له رسوله په ربتیا
نوم چي يې صديق دی په اصحابو کي بهتردی   ؤلکه مهتاب چي ځلېده په هره خوا
دو ار و پیشکش و که يې سر کهوو مالونه   تل به څار يد له پاک رسوله په تقوا
نوم چي د حضرت به سایل واخیسته و ده ته   ده به ورله ور کړه بر نعمت له ښه اشیا
کوره محمد رسول پخپله دي و يلي   دی به ؤ نبي که نبوت وای پس له ما
دی تر موړ و پلاره په حضرت باندي مین ؤ   ځکه يې رتبه شو له عظمته تر هرچا
چېري چي به و وت په غزا د کافرانو   نه به و کاته کافر اعلیٰ و که ادنا
دی به همیشه کمربسته ؤ په خدمت کي   نه به يې کېد له له بي دينه نه پروا
دی به قهر يدل مدام له سوزه بې فلاحه (۱)   چېري چي به ود ريدل ستوما نه صحابا
شک يې د حضرت په دين کي نه و پیدا شوی   تل به په اخلاص کي له رسوله ؤ گویا
ته هم په اخلاص شه په دي مه کوه شک و نه   شک دي که پیدا شي «هم» زنديق يې هم ترسا
مه کوه خودي بتین پري د رو ره له اخلاصه   خلاص به شي له اوره که هرڅو لري گنا
دا شماره چي کا حبیب الله له کاملانو

(۳) خدای پري مهربا ن شو «ولو کان فاسقا» (۱۳)

پس له ابو بکره د و يم يار د مصطفا   نوم د ده عمر ؤ چي بهتر ؤ تر هر چا
شک پري چېري مه کوه بې شکه جنتي دی   ځای به دي دوزخ شي که يقين نه کړي په دا

---

(۱) اصل: شه.

(۲) په اصل کي «له سوز نی فلاصه» لوستل کیږي.

تل به یی دره د عدالت وه چلېدله   کله به عادل ترده پادشاه شي بل پیدا

د ی چي به په نیت د غز اووت و میدان ته   و به تښتېده کافرا علی و که اد نا

ده چي به له و ر ایه آو زاو که په کافرو   و ار به یي خطا شو پر یو ته جداجدا

سروسال یي دواړه وو د خدای په رضا ایښي   نه به یي کېد له د دنیا په مال پرو وا

ده چي ایمان راوړ په حضرت باندي تصدیق   درست جهان تیاره ؤ شو په ده باندی رڼا

غم به د خپل ځان ورسره نه ؤ چي به پښ شو   ډېر به یي مردار کړل کافران اداادا

ځویي که کومه تعر یفونه د میړانې   کله به پوره شي که یي کړم سبا بیګا

سړ یي د ګناه په سبب کو ره خپل پسر کړ   هسي یي تقوا وه بې له رو یه بې ر یا

دی چي شو بادشاه در ه یي واخیسته د عدل   واړه په قرار شول که څوک کوزوو که بالا

داسي «یي» خوراک ؤ چي جنت یي جوړولو   څکه ډېر نسبت ورته کاوه شي د تقوا

ده چي بادشاهي کړله غرض یي پکي خدای ؤ   نه یي زر په کار و ونه خو ښي بې د دنیا

بل بادشاه به کله څوک دا هسي رنګ پیداشي   ناست چي په مسند ؤ د حضرت رسول الله

تل حبیب الله چي داویل کوي په مینه

(۴)   بل غرض یي نشته که یي شی د درګدا   (۱۵)

پس له دوو یارانو دریم یار د مصطفا   نوم د ده عثمان ؤ چي بهتر ؤ تر هرچا

دواړه یي پیشکش وو که یي سرؤ که یي مال ؤ   هیڅ پرو ا یي نه کیده په هغه نه په دا

چېري چي به غریب دده په کوڅه و کړ   ده به له اخلاصه و ر ته وو وي مرحبا

ډېري خزاني وي ده د خدای په لار و ر کړي   څکه یي خطاب ؤ ده مونډلی د سخا

داهسي سخیان به په جهان کله پیداشي   ډېر حلیم بشر ؤ چي دی کان ؤ د حیا

نه یي وه ریا په سخاوت کي که باو ر کړې   و ر کړه یي کوله په پردو خپلو استوا

خو به یي تعریف د سخاوت په ژبه وایم   بل به ترقیامته دار نګ کله شي پیدا

دیؤ معشوقه رسول په ده باندې مین ؤ
څکه یې کا رونه وو بې رو یه بې ریـا
داهسې بادشاه به ترقیا مته پیدانه شي
دین یې به روښان کړنور یې کوچ کړله دنیا
ته پرې عقیده کامله و ر و ړه له یقینه
څای به دې جنت شي که عمل و کړې په دا
کله مسلمان دی چې خو ک ځ زیات و کم پرې و ایي
شما رشو له کا فر و زند یقیو هم تـر سا
بل له چار یارو دی علي چې شیرد خدای دی
زو رؤ خدای و ر کړی تل مشغول په دې ثنا
ه یرد ده کا رونه وو له عقله را و تلی
ښه سودی راوړی پروی د لام ملا (۱) ؟
ای حبیب اله دا صحا بو تتبع کړه
(٥) تل په دا خو ښیره په هرآن کړه لا الا (۱۳)
بې له چا ریا را نو نو ر اصحاب د مصطفا
و اړه ښه څوانان وو چې مشغول وو په ثنا
نوم یې د نیکه دی تر او سه ښه یا د یږي
تل بـه پـه اخلاص کمر بسته ؤ په تقوا
د و ی به جنګید ل مدام د دین له محبته
نه به یې کړه و یره د کا فرو لـه غـزا

---

(۱) داصل له مخې کاپي شو.

هسی محبت ؤخدای دد وی په زړوکی ایښی
تل به یې ړوژه وه، کړیې ذکر دسولا

هم به یې ذکرونه په هرآن کول په وېرې
ښه یې کړل نمونځونه بې له روبه یې ریا

دارنګه طاعت به په جهان کله څوک وکا
نه به څوک تیرشوي وي نه پس له دې پیدا

تل به په فاقه ووخدای په دوی باندې مین و
کله یې خواړه وو په هرآن سبا بیګا

ویره ددوزخ وه خدای په دوی غالبه کړې
ځکه یې کوله همېشه د غم ژړا

هسې یې ؤ دین روښانه کړی له ظلامه
چېرې چې پیداشي په تیاره کې ښه رڼا

زه کله توانیږمه ددوی په تعریفونه
دادریاب عمیق دی چې یې نشته انتها

هرچې اقتدا پرې پسې کاځای یې جنت وي
خدای یې وړله ورکاکه دنیاوه که عقبا

پس له اصحابانو امامان چې دمذهب دي
ښه مجتهدان دي چې آګاه دي هم دانا

دوی دي څلورتنه زیات وکم په دا کې نشته
یوادریس مالک دی، شافعی بل حنفیا

PROPERTY OF ACKU
2109

واړه مذهبونه خدای په حق دي پيدا کړي

ته پړې پسې ځه چې هيڅ عذاب نه وي دستا

دي څلور مذهبه حنيفي پکې بهتر دی

پند کړه مخاطبه و اوره ښه ده د اوينا

دېرآسان مذهب دی دا خدای فضل په موږ کړی

راشیء چې بهتردی پسی وکړیء اقتدا

ډيرېي اخلاص دی په کتاب کې ثابت شوی ځان تری مه وباسه چې ته بيا موسې نجا

ما چې د ايبان په پښتو ژبه تاته و وې ته يې په يقين سره د زړه کړه امنا

تل حبيب الله چې کاستاينه داصحابو

(٦) ډيريې محبت دی دروغ نه دی په رښتيا (١٩)

در صفت حضرت ميان صاحب وقبله ی چمکنی (١)

گوره څه ښايسته ځوان دی پيرز ما | چې ر هبرد هرانسان دی پيرز ما
هر سړی چې مدعا ورلره يوسی | دی يې و کا مهربان دی پيرز ما
چې له چاسره يې کړې ښه وعده ده | په همه و کې جو ان دی پيرز ما
هر کلام يې علامت سنگ خار ادی | هسې رنگ شاه شاهان دی پيرز ما
هرو يې يې موافق دی له کتابه | تبراله پوچ گومان دی پيرز ما
هسې رنگ علم ور کړی پاک الله دی | لکه بحربې پايان دی پيرز ما
خدای ور کړی (٢) بې نسبه بې استاده | مقتدادرست جهان دی پيرز ما
سيال يې نشته په دې نړۍ باقي کې | هسې رنگه نمايان دی پيرز ما
هم يې علم باطني بحرعميق دی | کرامات لري عيان دی پيرز ما

---

(١) دا عنوان په حاشيه کې ليکل شوی دی (٢) په اصل کې «ور کړی دی» ليکل شوی دی.

یرسخي چې سخاوت یې بې ریا دی ‌ ‌ ‌ مهربانه په هرآن دی پیرزما
که فقیر دی که غني دی که ساپین دی (۱) ‌ ‌ ‌ په همه ؤ مهربان دی پیر زما
حاتم څه دی چې یې ورکړه په ناسوس وه ‌ ‌ ‌ ترده زیات په ډیر ایوان دی پیرزما
فصاحت یې گوره څه شانې کامل دی ‌ ‌ ‌ په سرو کې خوش نښان دی پیرزما
هم قاري دی ښه اداکا د حروفو ‌ ‌ ‌ خوش مقاله هر زمان دی پیرزما
هر مریض چې لاد وا ورلره ورشي ‌ ‌ ‌ دارو گیرې په خوشان دی پیرزما
د مظلومو تـل ژړاوده تـه کیږی ‌ ‌ ‌ چې نیک خواد درست جهان دی پیرزما
د دنیا پیروي نه کابې پـروا دی ‌ ‌ ‌ پیدا شوی عالیجان دی پیرزما
خبردار دی مرده دل ژوندی کوینه ‌ ‌ ‌ د رسول په لار روان دی پیرزما
بې حسابه یې یاران دي په جهان کې ‌ ‌ ‌ په مسند ناست دصنعان دی پیرزما
هر مرید یې و مطلب وته رسیږي ‌ ‌ ‌ لکه خضر په احسان دی پیرزما
د بد به یې هسې تللي په جهان ده ‌ ‌ ‌ چې خرگند لکه آسمان دی پیرزما
گوره څه کار ونه کاله عقله لرې ‌ ‌ ‌ جوړ عمر د حیاکان دی پیرزما
ښه مسجد یې بنا کړی په تحسین دی ‌ ‌ ‌ په رضا دپاک سبحان دی پیرزما
ډیر کتب یې جمع کړي دي بې حده ‌ ‌ ‌ لا د نورو په ارمان دی پیرزما
قیرانونه (۱) یې بې شماره دي ورکړي ‌ ‌ ‌ تل په ورکړو یک همان دی پیر زما
تعریفونه به یې کله پـه ما وشي ‌ ‌ ‌ چې وتلی له بیان دی پیر زما
څمکني د ده مسکن دی پکې اوسي ‌ ‌ ‌ نگاهبان د هرحیوان دی پیرزما
په احوال دزړو نوگوره ډیر آگاه دی ‌ ‌ ‌ خبردار دهند ایران دی پیرزما
څه عاجز حبیب الله دی څه به وایي ‌ ‌ ‌ چې اعلی تردې بیان دی پیرزما

---

(۱) په اصل کې «قیرانونه» دي.

شرمنده حبیب الله دی نه ور درومي

(۷) چې د خدای د درد یوان دی پیرپیرز ما (۳۰)

فهم کړه هوښیار شه دلسوزي کوه په ما   زه د تا بنده یمه ته یې زما مولا

ځای مې د ژړا بې تا نه بلې خوا ته نشته   ته مې ناز بردار شه که فریاد کړم که ژړا

خواست کوم په زوره دواړه لاس مې دي نیولي   ته به یې، قبوله کا زما د زړه دعا

دا نه حماقت دی چې ژړا په یار پسې کړم   وو تم له کلي مدام سرشوم په صحرا

تش گو کل و لاړ یمه بې روحه که باور کړې   هرچیرې چې واورم ستا وړه وړه خندا

خوش مې کړه عاشق یم ستا د عشق په لمبو سوی (۱) *   نه به بل پادشاه هسې پیداشي نه گدا

او ررا باندې بل دی چې سینه مې پرې ورتیرې   ر ایشه د لبره ته لرې څه خودوا

وار په وار مې و ژنې څه خوو گوره و ماته   خله مسته د روسې بې پروا و کبریا

ای حبیب الله دیار په وصل مه نازیږه

(۸) غم یې د هجران کړه واوره پند کړه داو ینا (۹)

حال مې دزړه څه دی واوره ای صنم زما   تل کافریادونه ستا په درهمدم زما

لرې کړه حجاب له مخه څه خویې ښکاره کړه   روغ به لیونی کړې تمامي عالم زما (۲)

ستا بشر چې وو ینم په خوب کې خدای خبر دی   دروسي، نه و دریږي له چشمانو نم زما

لږ نظر په ما د شفقت وکړه د لبره   څه لره رقیب خوشالوې په غم زما

ستا له زیبا مخه به زه څه په ژبه وایم   سپینه شوه سیاهي توبه کړه سات قلم زما

ستا تربڼوو روځو درست جهان څه دی باور کړه   ځار دې تربڼوشه تمامي انعم زما

ستا خبر چې راشي له رقیب سره دسینې   نه مې وي قسم دی که پوهیږې دم زما

---

(۱) اصل: خو بڼ مه کړه عاشق دی ستا د عشق په لمبو سوی.

(۱) په اصل کې د علم زمار اغلی دی.

تیار ته چی کړم شونډې ستا په ذکر مشغولا کړم بې له تاسې ژ به شي بسته محکم زما
اره اندیښنه مې له زړه وو ته باور کړه پروت یم پرهار ژ لی دستاغم مرهم زما

(۹) زه حبیب اله چې سدام ژارم ستا په مینه (۱۰)
سم قامت مې نون شو پیچ در پیچه خم زما

هی هی څه چارې دې وکړې محبوبا چې دې مخ راته څرګند که پټ پنها
ژ و بل ژ و بل دې دستر ګو په سینګار یم لادې تینګ پرې او یزان کړ پاس بالا
مخ دې هسې رنګ ښایسته لکه مهتاب دی ځکه نه لرې چراغ د شپې رڼا
دا جهان به همه واره خماري کړې که تش مخ «کړې» ور ښکاره لکه بریښنا
زه به وخورم په دا باب هزار قسمه چې بل نشته څوک دا هسې رنګ زیبا
که زما و حال ته ګورې حال مې دادی لکه وو حضرت یوسف او زلیخا
عقل هوش مې دواړه لاړل ستا په مینه ته لا نه کوې باور په دا وینا
کوو سهلت مې له ز ګیرو یه په عذاب شي چې په زړه کړم ستاو ره وره خندا

چې فریا د حبیب اله کا ستا په مینه

(۱۰) روغ عالم ورته نعره کا سهیر ک بلا (۱) (۹)

باور مه کوه په یارد دې دنیا بې وفا دی یار غار ددې دنیا
یه یوه ګړی د ستاوی بیاد بل شی څه ویساده په روزګار ددی دنیا
آشنایان یې اشنانه دي اغیار اندي راشه مه کوه روزګارد دې دنیا
توبه ګار شه ای عاقله که دانایې چې خوښیږي توبه ګار ددې دنیا
سترګې رونې کړه په هره خواه وګوره څه ناتار دی په هرواردې دنیا
که یاران که آشنایان دز مانې دي ماګڼلي دي اغیارد دې دنیا

(۱) کټ مټ و لیکل شو.

هیڅ ویسایې په دار و غ و ګړي نه شي — چې په خلاص شي په ناتار ددې دنیا

راشه پرېږده د دنیا کور و کوډی — غم خورګي ده کار و بار ددې ددنیا

مالیدلي دي چې تل په غم غمجن دي — حرصناك او طلبګار د دې دنیا

دغم وله به يې نهل وي په زړه کې — بې غم کله وي غمخوار ددې دنیا

نقصاني دي د دنیا عما رتو نه — پخته کله دی ګلکار د دې دنیا

تل پښېمانه وي چې سوددنیا کاندي — سود دی چېرې په مزاردې دنیا

مالیدلي دي چې لاړل له ارمانه — طلبګار او خدمتګار د دې دنیا

بهتري پکې هیچا لیدلې نه ده — کهتري ده وار په وار ددې دنیا

په یوه ګړی بهار وي بیاخزان شي — څه باور دی په بهار ددې دنیا

تمه مه کړه چې به پایي ترقیامته — لږژوندون ګڼه په شمار ددې دنیا

لاړل لاړل ددنیایاران مې لاړل — لاس مې نه رسي په چار ددې دنیا

پرې پوهیږم دقیامت نژدې ساعت شو — اوس چې راغی پسې وار ددې دنیا

هرزحمت لره دارو شته په جهان کې — دارو نه لري بیمار د دې دنیا

ولې نه کوې توبه دلوېې و ږځې — دا لږعمر دی په شمار د دی دنیا

په غفلت دې دځوانی عمر تېر کړ — بېهوده لري اختیار د دې دنیا

اوس پخپله دجنت توبه پیدا کړه — وویریږه په ګوزار د دې دنیا

زه حبیب الله مرید د هغه چایم

(۱۱) چې مدام وي پرې سرکار ددې دنیا (۲۳)

ښه ده عاشقي چې وي يې مینه په رښتیا — نه ده هغه مینه چې یې مینه وي دغلا

---

(۱) کتب مت ولیکل شو

گوره زلیخاچې دا عاشقه په رښتیا وه ‌ ‌ ‌ سینه یې کمال وه چې یې بیاسونده مولا

نرهغه سړی دی چې یې سوز په زړه کې وي نه ‌ ‌ ‌ عشق سره مونده شي که دنیاده که عقبا

بواره محبت دی چې په یار پسې ژړیږي ‌ ‌ ‌ بې عشقه څوک کله کا داهسې رنګ ژړا

سینه د مجنون وه چې په ډېر مدت ولاړ ؤ ‌ ‌ ‌ هله راروان شو چې بیاو و یېل لیلا

بې له دوی داهسې ؤ و آدم ؤ که در خووه ‌ ‌ ‌ ځکه ډېر یادیږي په دا دور «نیا

ډېر هند کې رادروسي پېښور وهم کابل ته ‌ ‌ ‌ کله دچا یادد دي بې له هېره له رانجا

اې حبیب الله د عاشقانو پیروي کړه

(۱۲) ‌ ‌ ‌ لاس په دا من کیږده د یوسف وزلیخا ‌ ‌ ‌ (۸)

لاس مې دي نیولې شب و روز په دادعا ‌ ‌ ‌ خدای که مې حاصله کا دزړه مدعا

روغ نه یم نولیږمه دارومې کله کیږي (۱) ‌ ‌ ‌ خدای زه پیدا کړی یم په اصل لا دوا

ډېر و ګړي واړه هوسیږي غم یې نشته ‌ ‌ ‌ بخره ازلي ده زما بخره شوه ژړا

زه چې پیدا کړی خدای په اصل کې نامرادیم ‌ ‌ ‌ څه لره کومه غم خوارګي په و او یلا

اوس مې عقیده دزړه حاصله شوه محکمه ‌ ‌ ‌ ځکه بې قرار یمه چې نه لرم نیک خوا

هره خواچې درومم دیارغم راسره ملي ‌ ‌ ‌ کورکه په سفریم که په کاې په صحرا

نوم چې دو صال دی یاعنقاشو په جهان کې ‌ ‌ ‌ یا زما په بخره شو هجران ما ابدا

نه ښایي له مانه په دالبږ و ندون باقي کې ‌ ‌ ‌ تل کمربسته په امید خنجر ترملا

هرچې طمع پرې کا توکلت علی الله شي ‌ ‌ ‌ خدای به ورله ور که، که دنیاده که عقبا

تل حبیب الله چې داو یل کاندی په زوره

(۱۳) ‌ ‌ ‌ خدای دی اخته کړی په بلالانتها ‌ ‌ ‌ (۱۰)

---

(۱) په اصل کې «کله کنږی» لیکل شوی دی

خدایه ستافضل عظیم« دی »په هرچا — که پا د شاه د زمانې دی که گدا

و هرچادې بخره ۀو رکړه گوښې، گوښې — ځوک و لیان پیغمبران شول ځوک پارسا

هر بنده دې په اختیا رسره پرکړی — بیاجنت دو زخ دې دو اړه کړل پیدا

ځوک نفلونه کادشپې صائیم دو رځې — د چابخره شوه هرصبح و شام دغلا

د چا پند په سر بیگا رلره ببوه شي — ځوک و لاړوي بې پرو اخنجرترملا

ځینې تښتي لـه ظـالمه ستمگاره — ځوک و لاړوي کوږ دستار نه کاپروا

واشه واو ره سردخدای په خدمت تیت کړه — چې دې نه کیږي پر و اد هیڅ اشیا

ته چې قطع کړې اسید له نوره خلکه — دا جهان به ستامجنون شي ته لیلا

که راحت غواړې«زحمت»ورسره شته دی — سودو زیان دو اړه راغلي دي برنا

داچې و ایمه همه و خان ته و ایم — چې مدام لهو لعب کړم وا و یلا

مدا م سرپه سجد ه پرو ت حبیب ا لله دی

(۱۴) که یې خدای کاندي غونچه دزړ گي و ا (۱۰)

څه نعمت یې دی در کړی خدای و تا — چې یې نشته دی باو ر کړه انتها

په صورت یې د آدم یې پیدا کړی — هم حضرت رسول کریم دی رهنما

لاس و پښې یې ښه ساز کړي تاله درکړل — عبا د ت کوه که مر د یې نه گنا

خوله و ژبه یې در کړي په ثنا دي — تامدام کړه خوله په بدو باندې و ا

غوږ یې همه درله درکړي چې ښه و او ره — تادبد و په و ینا کړل غوږ شنوا

بل نعمت یې وتاسترگې دي درکړي — ته پرې گوره ښه بزرگان ښه اولیا

دا همه و اړه انعام دي جمع شوی — بل طعام هم در کوی بیگاه سبا

که نیکي کا که بدي کا دی معطي(۱) دی — برا برنه دی نعمت په هر اشیا

---

(۱) معطي: و ر کوو نکی.

سترگې و خورې اې انسانه بې انصافه   چې نه شکر په نعمت کړې نه ثنا

چې يې تالره داهسې چارې در کړې   خله نــه کوې طاعت بيگاه سبا

دد، هيڅ پوره نيمگړې په تانه دي   ته هم ثان لره کوې ورع تقوا

په ژړا حيب اله دی و الله ته

(۱۵)   چې رحيم په گناهکار و دی مولا   (۱۲)

دا بلبل چې همېشه په گل چغار کا   دا ثناصفت مدام ستا د رخسار کا

قددې سم لکه الف دی لا تيری ترې   حجاب ځکه پټ پنهان سروې چنار کا

مثل نه لرې چې تله دې په يون يون دي   زر که ځکه تتبع ستا در فتار کا

خوشبويي دې د زلفينو جهان و نغښت   په چندړو کې ارسان ارمان ښاسار کا

سرې څه دي چې به زړه نيسي و تاته   په هوا کې هم سرغونه له تازار کا

لمرسپوږمی چې د رست جهان يې په رڼا دی   همېشه حجاب په مخ کې له تا عار کا

دو اړه سترگې دآهو په رنجو تورې   په غمزو غمزو کې څه عجب گوزار کا

سرې يې شونډې دي په سيونه پوهيږم   عاشق و ژني په رموز سره گفتار کا

دحبيب له سترگو او ښې و ينې د روسي

(۱٦) چې په زړه کې تصور د غه يار کا   (۹)

عاشقان دې ستا غمونه جاو دان کا   چې يودم ځنې جداشي آه ارمان کا

دو صال له نعمتونو يې پروا دي   همېشه په زړه کې غم ستاد هجران کا

داهم زه يم چې دې غم پيرم په بيه   که سودادې د غمونو د رست جهان کا

ماشې له خپله دره رقيب بولي   عجب کاردی چې سلک يارانسگان کا

چې داهسې دې جفاده ډېره ډېره   څه ښادي به ستا په دو ر عاشقان کا

ستا کوڅه جنت محل ده و عاشق ته   څه آرزو به ستا په حسن د رضوان کا

ځه خپل زلفې پرېشانه کړه ښې خوشبويي — چې هميش لاف په چند ړو بښاسارا ن کا

دا روا که ناروادي نه پوهېږم — چې بلبل شړې له ګل خوښي زاغان کا

زه يوازې سرګردان دارپسې نه يم — په تندي هم هميشه ګردش آسمان کا

ځه به لاف حبيب الله د شاعرى کا (۱۰)

(۱۷) که ځه لاف کا يا يونس يا به رحمان کا

کوچ دى ياران لاړل دا عالم ولې تعطيل کا — هرچې عارفان دي په توبه د مرګ تعجيل کا

يون دى په دا لاره هيڅ سړى به پاتو نه شي — ښه هغه سړى دى چې له او رمځان اصيل کا

کله يې عذاب وي خداى به وړ کا جنتونه — هر چې با ايمانه له فاني د نيا رحيل کا

ډېر عذاب د قبر دى يقين پرې باندې ته کړه — خداى به يې نګاه کا که عمل د ځان وکيل کا

فضل يې په کار دى زموږ بله هيله نشته — پوچ عبث پوهيږى چې په زړه کې بل دليل کا

تېره ده نابوده دنياځه لره بې غم يې — دا توبه په کار ده چې ځان خداى په لار سبيل کا

سر و مال د خداى په نامه دواړه ورقربان کړه — هرچې فقير رايشي د ستا په کوځه ايل کا

دا هسې ارباب چې پيدا شوى دى حبيبه

(۱۸) زړ دى که يې خداى کا چې و دان به درست خليل کا (۸)

ځوني سترګې دې په زړه باندې ګوزار کا — له تيرې تورې بدتر زخم پرهار کا

هغه کار به حکيما نو ښه نه وي — چې سرهم د پرهار ژليو زما يار کا

په ځاى ناست دى بې پروا له درست جهانه — نا روا شه که زره چيرته رفتار کا

زه به هله په ځان پوه شم چې سې يار شو — که سنصور غوندې هم ما پورته په دار کا

د خزان له د هشتونو خبرنه دي — د ابلبلې چې په ګل باندې چغار کا

په وصال کې عاشقان وا رمسحزون دي — عاقلان کله خبرشي په بهار کا؟

و ربه نه وړم ستا له دره که يې خداى کا — که ژوندى يې خوګ ستى غوندې په دا کار

دچندړو و نه‌و لوښته‌له‌و یخه   همېشه خاورې په‌سرپرو از ښاساړ کا

طبیبان‌دړ نځور انوخبرو اخلي   نارو اشه‌که دو ادهیڅ بیمار کا

زه حبیب دحیرت‌گوته په‌غابښ نیسم

(۱۹) چې‌مې یار روان شوسیل دبازار کار (۱۰)

«ب»

د اجهان سې تمام و لید وخراب — بې و فا دی لکه عمر د حباب
و اړه تلونی دي که نن وي که سباوي — تو سني که همسایه دی که ار باب
بې وفادي د دې د هریاران و اړه — په آر زو يې غلطه مه شه د سراب
او س جوسې يې شوې سپیرې له خاورو گډې — نازو لي د دنیا په ښه اسباب
گورہ څه شول خو بیدلي په بسترو — سپیرې ږیرې اوس لړل شي په تراب
چې سدام پرې پسې ناړم غږيې نشته — نه پو هیږم دا په څه نه کا څواب
چې دا هسې رنگ احوال د ز مانې دی — خله غم کړې د دنیا په پیچ و تاب
تعلق د د نیامه کو ه هو ښیا ر شه — وړاندي ني ترتا خو ک تللی دي سراب
را شه پر یږده د دنیا کور و کوډ یه — چې دې عمر عبث در و سی په شتاب
همیشه د ځان په و یر ژ اړه عاقله — تل و یلیږه په خپل غم لکه کباب
خله غم د آخرت نه لرې حبیبه — چې په مخه دې راد رومي لوی حساب

همیشه حبیب الله په ستر گو و یني

(۲ ۰) چې چړې و ر ته مد ام مړي قصاب (۱ ۲)

رایشه عاقله له اخلاصه کړه طلب   تل کمربسته اوسه چې بیاموسې خپل رب
پاخه دمولا په طلب گرځه پسې ژ اړ ه   مه کوه حیله په ځان چې بیاموسې مطلب
ژ اړه ایونی شه آشنامه باسه له دله   و تړه محکم کړه بې مولا په نور څه اب
و ایه تل ذکرو نه پنځه خیزه نورادا کړه   خدای به در له درکابراقونه دمرکب
هم کلمه و ایه پنځه وخته کړه لمونځونه   بیا پسې ر و ژ ه کړه من الصبح الی شب
هم زکات ادا کړه که دې مال کامل نصاب شي *حج هم پسې و کړه که موجود یې وي سبب
شرک له میانه و باسه عاقله که دانا یې   خښې کړه منګولې په خپل دین په خپل مذهب
ځای به یې جنت شي هرچې دا کارونه و کا   څوک که ترې اعراض کا هغه کس دی معذب
ته ځنې بیزارشه که دې خپل او که پردی وي   مه یې قبلوه که عجم و ي که عرب
ولې کړې نادانه، په فاني دنیاناز یرې   دادې حماقت دی ای جاهل مرکب
نه بنا یې له تانه چې توبه دعقبانه کړې   خدا ی یې پیدا کړی ته په ذات عالي نسب
ای حبیب الله تل په زاری اوسه مولا ته

(۲۱)   خدای که دې نګه کادقیامت له دی غضب   (۱۲)

دا زماد یدن نصیب   و لــې نــه شو د حبیب
په ژ ړاشمه نو لیږم   چې فرقت یې شي قریب (۱)
ته یوګل یې په چمن کې   ز ماز ړ ه د ی عند لیــب
په دیدن مې مشرف کړه   چې محفو ظ شم ز ه غریــب
جاروا ته مې بیار ته نشته   ستادیدن لکه ز بیــب (۲)
څه خوښهم په ماو کړه   حق ثا بت د ی د قریــب
ز ه مجرو ح یم ستاله لاسه   بې تا نه لر م طبیــب

---

(۱) د(قریب) په ځای(جریب) لوستل کیږي. (۲) ز بیب=و څکې.

تاڅخه زما دمه ده — چې پوهیږم په ترتیب
ولې کړې ناترسه دله — چې مدام ستایې رقیب
اوس مې وژنې بې سلاحه — نولوېږې مې په تعذیب
څه ګناه له ما نه شوې — چې مې بولې تل مصیب
بې دیدار له زیبا مخه

(٢٢) نشته شغل د حبیب (١٢)

آه زما په ځان دی چې اخته شوم په غضب — خلاص به مې مولا کا بې د نشته بل سبب
ژاړم که فریاد کړم څوک پروار اباندې نه کا * نه مې شته غمخور څوک په سرو کې بې له رب
تل پسې نولیږم و چ هلوو کې شولم پاتې — خلک وا بې جوړېد اخبر ده عجب
څه لره مې وژنې په غمزو کړې ګوزارونه — بې تیغه حلال یم په محیط کې لکه کب
هرڅوک چې زما په غم هوس کاندي تل خاندي * خدای دې یې اخته کا د بادشاه په اوی غضب
کله رسید ی شمه بې ده وبل درګاه ته — پاتې مې په ځای شو دسپر لی شه مرکب
تل کوم زاری دواړه لاس مې دي نیولي * خدای یې که راخلاص کاندي له دې بلا جلب
اور راباندې بل دی قراري مې کله کیږي — ګرز م لورد لوره که مې و شي لبطرب
سوز مه و رتیږ مه مد ام کوم بازی — اوږ مه لوغړ یږمه بې عناه بې ادب
واو ره د حبیب په بخر ه ږیږد ی عذابونه

(٢٣) وو ت بې نصیبه له د ریابه تشنه لب (١٠)

رخساري دي سفید رنګه سیم غب غب * راکړه چې پرې کیږدم خپلې شونډې ستا په لب
ودره چې زور کړم خپله خوا کړم باندې یخه — شه سینه دې تخت ده څه نادر ده څه عجب
رایشه دلبره چې موږدو اړه سره وکړو — وار په وار خبرې چې حاصل موشي مطلب
پرانیزه صحبوبې چې مې زړه ور باندې شه شي — شونډې دو اړه خپلې کلام و کړه منتخب

وار کړه‌خه‌خوود ره‌چې‌مې‌سم‌د ر پسې کوړ شو ښه نظر‌د‌مینې په آرزو‌هم په طلب
ودې‌شلېده‌مز ی‌په سبب‌د بې ر اسی ښه‌جامه مهینه په ښا خو نود عنب
ومې د راوه‌تاته که‌ته راشې باندې‌سپورشې ښه‌عر اقې‌آس دی‌جوړو لی‌دمر کب
پرانېزه وساته‌چې بې‌و گو رم پخپله خرنګ‌دې کاغذ‌دی‌چې‌ته‌خه‌لرې‌منصب
واربه‌دې‌خطاشې که‌یې‌وو ینې‌په‌سترګو غم‌دی‌ستاچې او رې‌من‌الصبح تاشب

(۲۴) زه‌حبیب الـــه چـــې پناه کیږم هـــو سیږم
خال‌په‌میان‌دو روخوچې حاصل‌موشې‌طرب(۱۰)

«ت»

را یشه‌عاقله توبه گارشه‌ته له‌لات وپیژنه رب خپل‌عزا خه‌دی‌له منات
ته که‌خاص‌طالب‌شې‌عبادت‌په ریانه کړې *خدای‌به‌درله‌در کاندې‌ښه کشف کرامات
راشه کړه لونموڅه هم‌صائیم‌د رمضان‌شه بیا پرې پسې‌ور کړه‌سرسا یه‌او‌هم‌ذ کات
حلم کړه‌پیشه په فقراوو ور حمیره داد بزرگی‌دي که پوهیږې‌علا مات
دادې‌بدبختې‌چې طاعت‌دبا رې‌نه کړې تل کوې‌بازی همیشه په خر ابا ت
گوره‌چې‌غرو ر یې کړ ابلیس‌لعین‌مردود‌شو ښه‌مقبول‌آدم‌شوچې‌یې‌ښه شو علامات
شپه‌دې‌په‌خوب‌تېره کړه‌په‌ورځ لهوولعب کړې *نه‌رامعلومیږي‌چې کوم‌وخت کوې‌طاعات
کله‌دې ککوړی‌وفقیرو ته‌رضاشې؟ خرڅ‌دې کړل‌مالونه‌وپادشاه‌ته‌په‌سرسات(۱)
خاې‌دې‌د کتنې‌هم‌دلې‌دی که‌پوهیږې مت کړه‌توبه‌واخله‌چې‌بیانه کړې‌ندامات
پاتې‌به‌تنهاشې‌اې حبیبه‌په بیدیا کې مل‌به‌دې‌عمل‌وي‌وو یریږ وله ظلمات

(۲۵) زه‌حبیب‌الـه‌چـې‌همېشـه‌ژړا کـوـه
مـل‌مې هلته‌نشته‌که‌پـردې که قـرابـات(۱۱)

آه‌خه‌زمانه دمچې‌یې‌زه کړم‌له‌تاست ونښتم،بندې‌شوم، پر یوتم په نجاست

---

(۱) په‌اصل کې‌د«سرسات» پرځای«سلسات» لیکل‌شوی‌دی.

ژاړم که فریاد کړم مه داروسې کله کیږي   وای افسوس فریاددی چې سې نشته فراغت

غم دې په ما اوري هیڅ هوس سې د زړه نشته   داد رې په ما شوي، تابه رو زقیا مت

زه چې پیدا کړی خدای په اصل کې نامرادیم (۱) * د اده زما بخره خوبه نه کړم قناعت

شوي ازلي به په تدبیر کله خوک نور کا   پوچ دی که خوک کاندي په دا بخره نداست

نور وګړي واړه هو سیږي غم یې نشته   زه مدام ژړیږم هیڅ سې نشته دی عزت

ګوره چې تر کومه حده دي زما غمونه   نه را معلو میږي چې به وو خم سلامت

اې کامله پیره په فریادبه تا ته ژاړم   ته په خاص درګاه کې زما وکړه شفاعت

ځه به و ایم چا ته دنصیب شوي راسي   دا زما مردي ده چې کومه عبادت

زه حبیب الله او سې کنار دله خلکه خوښیم

(۲۶) و لې چې موصوف شوم د ګناه په علامت (۱۰)

آه افسوس که درعشق تواین خار کجاست   غم دې نا تار کړل عالمونه این ګوزار کجاست

نمی کند دل هوس سوی ګلستان ای دوست   وخت د خوښۍ دی یاردی چېرې نوبهار کجاست

دا یې کار هم په تقوا دی آه ارمان دی شمکنو

---

(۱) په اصل کې «کول» لیکل شوی دی.

په نقر او و سهر بان دی په خور تګه په خوشان دی

خنده رو یه خوش دهان دی ه ارمان دی خمکنو

هر عالم یې متعلم دی تل فراره له ظالم دی

بیامخي هم ترحاتم دی آه ارمان دی خمکنو

عالمان چې د جهان دي دده علم ته حیران دي

که سړي دي که پیریان دي آه ارمان دي خمکنو

دبیر یې عمم د باطن دی چې حاصل متوطن دی

پټ له رازه مبین دی آه ارمان دی خمکنو

هیڅوک نشته دده سیال خه به کاندي قیل وقال

د چا نشته و ته مجال آه ارمان دی خمکنو

سخاوت یې په کمال دی بې نقصانه بې زوال دی

نبه شیرین یې قیل وقال دی آه ارمان دی خمکنو

که عالم پرې و رشي دبیر لاطعام شي تر دوی تیر

هیڅ سړی یې نه وي شپر آه ارمان دی خمکنو

و اره و نمانځي به مینه لکه نبه مین چې وینه

په مجلس یې خونبوینه آه ارمان دی خمکنو

خوش کلامه خوش آو از دی وهر چاسره یې راز دی

که محمود دی که ایاز دی آه ارمان دی خمکنو

چې دی ولولي قرائت عالمو نه کالت پت

بې هوش پریوځي له هیبت آه ارمان دی خمکنو

میانه قددی میانه قال مخ یې دی لکه هلال

مخ یې مبین نبه یې جمال آه ارمان دی خمکنو

چې روان شي گړندی دی ، ډېر شجاع او میړنی دی
پیدا کړی خدای زړی دی آه ارمان دی ښه ګنو

پیدا کړی دی خدای شمع ، عالمونه دي پرې جمع
له هیچا نه کاندي طمع آه ارمان دی ښه ګنو

که پیدا په جهان نه وای ډېر عجب که ارمان نه وای
بیا ویران دا جهان نه وای آه ارمان دی ښه ګنو

سخاوت یې هسې شان دی ، چې څرګند لکه آسمان دی
ډېر په زړه «همه» ساده ځوان دی آه ارمان دی ښه ګنو

خدای دې عمر ورده ډېر کاچېرې نه وي چې ماهېر کا
په طاعت مې دې دلبر کا آه ارمان دی ښه ګنو

خدای دې خوار دده دښمن کاچې په بدو بې بې ظن کا
په غیبت یې واده هن کا آه ارمان دی ښه ګنو

خدای دې وژغوري حبیب له ناکسه بې ادیب
مدام حبیب اوسي غریب آه ارمان دی ښه ګنو
بیان کا حبیب الله د دوستانو د الله
(۴۴) ته یې و بخښه الله اه ارمان دی ښه ګنو (۷۴)

چې نظر کړم ستا دسترګو په مژګانو
ځان حساب کړم په شماره د مردګانو

تور بانه دې کاره غشي په مالګې
ډېر خه دم لرم په زړه ستا د چشمانو

چې دې بیرنه کړه بر قه له سپینه مخه
اوردې بل کړ په خاطر د عاشقانو

زړه زما ګوره په داسبب غمجن دی

چې مدام دې دی سفر نج له رقیبانو

داله ما وایه په څه سبب عناد کړې

تاګناه یم پـــه زړه اله د ښمنانو

بل نیږ خوا به دې له ما ګله پیدا شي

خو ګڼ هم شته دی بل له ما استاد دوستانو

څه خو آه زما په غوږ او ره دلبره

فهم و کړه پـه احـوال د غـریبانو

واو یلا کوم دربان د ستاد دریم

زه غلام یم په خدمت کی د خـوبـانـو

که بوسه و حبیب ورکړې ډېر به خوښ شي

(۷۵) چې ارزو لري هر ګورد سهو شانـو (۹)

«۵»

څه له ره هوس کړې چې په مخه دې سر شته

زړدې چې به دروی دروغ نه دی داخبر شته

ولې کړې کم بخته چې توبه دعقبانه کړې

دا به دې به کار شي تر دې ګله بل هنر شته

ګوره د دنیا کاروانه واړه بې وفـادي

پوچ عبث نازیږې که د او په تن سی زر شته(۱)

---

(۱) په اصل کې «ښم» ایله لشوی دی .

هیڅوک دې همراه په هغه تورلحد کې نشته
خهشو که داو ابېچې زمامادر پدر شته

گوره بادشاهان چې به لښکر ې پسې تللې
نه هغه لښکرې نه بالین و نه بستر شته

پسې برهنه له کوره ووا ته ښې بیل
هیڅ بې په کار نه شول بې له ښو یو خادر شته

ولې د نیر پسه کېناسته سره شر میږې
زردې چې به راشي هغه خایم برابر شته

مهوایه چې زهیم په جهان کې بلې بهه دوې
ته خه سهول بې تر نا وېر اعلی بهتر شته

غم زمو په نښته دا مکیر موپاک رسول دی
خدای زمو رهوان دی چې پیشوا موښه سرور شته

بل صدیق اکبر دی له عمره له عثمانه
گوره فاطمه بې وه ښځمه بل حیدر شته

واړه خاصیان به له دوزخه رابیرون کا
داسې غمخور چې همیشه زمو زړه سر شته

ما حبیب الله چې گناه ونه دې بې سر کړې
خدای په بخښنده شي چې رسول مو پاک سرور شته (۷۶) (۰۳)

خه خو گوره زما پریشان حال ته
خله وروسې درقیب خرد جال ته

وابرو یو ته دې غنه کتلی نه شم
سلایک واړه حیران دې ستا جمال ته

هر سا بنام زما آرزو ستاد دیدن ده
لکه گوري روژني عید هلال ته

قراري چې دچا زو بشې خوب حرام دی
او س ولاړیم همیشه سحر شمال ته

زه پیوازې یه تا نه یم شیدا شوی
درست جهان دی لیونی ستا خطو خال ته

هیڅ اثر چې ستا سینګار پرې باندې نه کا
خله خان بیې و هر رنګه دیوال ته (۱)

خه خورایشه به مخه دخدای روی دی
چې مدام دی په درپروت یم و صال ته

ته د راز خبرې مه کوه په زوره
دا خو ږ احوال خر ګند وي هر ابدال ته

په رخسار یې او ښې دروسي نه و دریږي
دا خبرې کله ګرزي ستا و خیال ته

زه مجروح ستاد غمزې یم په زهر جلی (۲)
زړ ملهم د سینې ورکه وقتال ته

بل شاعر دا هسې کله معلومیږي
(۷۸) څکه کاحبیب الله آفرین خوشال ته (۱۱)

---

(۱) په اصل کې «وهبر نګ دیوال ته» لیکل شوی دی .
(۲) په اصل کې «زهر حلې» لوستل کیږي .

راشه‌تو به‌گارشه‌له خودی خودپرسته

تل کوه ذکر و نه‌په دامینه اوسه مسته

خاوري شه کړيږه په درگاه د درو يشانو

اوسه په‌خدمت يي له‌اخلاصه کمر بسته(۱)

ذکر که‌تقوادههم په دا جهان مونده شي

ځای دی‌د کتني ځان محکم کړه په‌دا سرسته

عمردی تیر يږي سرگ په‌خوان په‌زاړه نه‌دی

ولي‌عسي وابي چي‌طاعت به کوم پسته

گوره داپنځه‌ورځي‌ژوندون دي غنیمت دی

شکر په نعمت کوه عاقله لـه نخسته

عمر به دي خوږي ترقیامته خو به نه يي

دېر که چېري پایي نهایت ترسال‌شسته

پس‌له‌دي به‌خه کړي راته وایه‌بوالهوسه

پروت بـه بي‌تیاري کي دلحدگناهی نسته

اوس تو به‌وباسم‌زد حبیب‌الله‌کبره

(۷۸) کبرداپلیس چي لعین شوله السته (۸)

---

(۱) اصل: اوس کمر رادت په‌خدمت‌له‌اخلاصه کمر بسته».

واشه قایم شه د اسلام له سپینه گټه
واړوه په ځان خپل د ایمان مهینه ختیه

خاورې که بشر خپل لا پخوا چې خاورې کیږي
پند کړه دا خبره آخر تله دي له دې گټه

درست عمر دې تیر کړ راته وایه څه دې وکړل
غرق شوې په گناه کې و دې نه کړه داین گټه

مرگ دې فراموش کړ دې حرص په دام کې
ولې د غفلت له خوبه نه پاخې همته

ویره کړه له اوره د دوزخ له عذابونو
څه خوراشه و نیسه د دې جهان سکروټه

سود و زیان دلې دی تجارت د آخرت کړه
څه سودا د دین کړه اوس مختار یې نه دې هنته

ای حبیب الله چې نصیحت کوې و بل ته
(۷۹) ځان ته خلله نه کړې دا خبرې نې بې وته (۷)

چې محبوب له ما سره دی کوم څه
لاسې زړه په اندېښنه دی کوم څه

لـه هیبته یې ومخ ته کتی نـــه شم
له حجابه برهنه دی کوم څه

بې صبري مې په زړه زور شوه نه توانیږم
درست صورت سې پروانه دی کوم څه

جاروانه وسانه عار دي چې عاشق شوم
گله خوی د ارندانه دی کوم څه

ژوبل پرو کی پرو کي په خای پروت یم

سپینکی مخ دې قتلانه دی کوم خه

د دنیا اند یښنې واړه له ما لاړې

تمام تن مې جلیا نه دی کوم خه

د اله خپله پخته خه و چاته وایم

خپل معشوق مې اشیانه دی کوم خه

هی توبه زما له هسې زندگیه

یار رقیب ته بیا نه دی کوم خه

مدام خو بن حبیب الله دی که نو لیری

(۸۰) درست و یار ته شکرانه دی کوم خه (۹)

حال مې د ی دمین که ای محبو بې بې صلاحه

ډوب دې په دریاب کړم ولې کړې کچه سلاحه

خال په و روخو کیږده چې عالم دې تماشا کا

خله بې ترتیبه له پردې وزې قباحه

ستر گې دې عجبې چې آهو و رنه حجاب کا

تورې په رنجو کړې بې سنګاره بی کلاحه

تور بانه دې غشې دې مدام کاګو زاروانه

و روخې دې لیندی دي عاشق ولې ترې صراحه

مخ دې قمر زنګ دی پکې سیب زنخدان شته

خه خو یې ښکاره کړه عاشقان و سر ل دتاحه

خه نبې دې خبرې دې بسار یکې منتخبې

خدای روی دی گو یاشه عاشنا نو ته مداحه

و مې ننبلي ژ به‌چې بې تا پرې نور خه‌و ایم   ته‌ زمادمه بې رایشه خه‌خو فتاحه

و ران شودحبیب دژوندون خطاقضا بې راغاله

(۸۱) ته‌به‌ بې تازه کړې که‌دز ړه‌ کوې ومتاحه! (۸)

ته بهتر تر هر انسان بې محمده   تماشاد درست جهان بې محمده

که نبیان پیغمبران که اولیادي   گو ره‌ته دوارو خان بې محمده

بې له‌خدایه هر چې دې په‌اسمان زمکه   ترهمه‌ووپه ده گران بې محمده

خدای رضاده خپله‌تالره در کړې   ته‌دخدای ددر دیوان بې محمده

چې پخپله خدای لولاک ده‌دي و یلي   ځکه ته شاه شاهان بې محمده

تاسپو ږمې په‌اشارت ده پاره کړې   شه‌هادي د کافران بې محمده

هروحشي په‌دې خدمت کړ له‌اخلاصه   فهمیده په هرزمان بې محمده

عیسی مړه‌ژ وندي کول ددیرو کالو   ته‌هم هیر نګ(۱) شان بې محمده

ده موسی مشرف کړی په کوه طورؤ   تې (۲) بللی په آسمان بې محمده

چې روان شوې له جبر یله‌ومعراج ته   په‌براق باندې روان بې محمده

جنتو نه د وزخو نه دي لید لي   لا په پورته ترې روان بې محمده

چې احوال د عاصیانو درمعلوم شو   ته‌ددوی په‌ځان گریان بې محمده

بیاجبر یل درخخه پاتو په‌خپل ځای شو   رف رف‌واخیستی چالان بې محمده

امر نهې دې همه له خدایه راوړل   باربردار بې ته‌په‌ځان بې محمده

عاصیان به‌و اړه خلاص کړې له‌عذابه   چې غمخورد درست جهان بې محمده

په انلس کاله‌شپه کې دې معراج که   نو رله‌خدایه راروان بې محمده

چې راکوز شوې له‌آسمانه‌وخپل ځای ته   گو یا تللی د ازمان بې محمده

---

(۱) کت مت را انقل شو. (۲) په‌اصل کې «ته» لیکل شوی دی.

په احوال دې د معراج اصحاب خوشحال شول — چې په دین کې پهلوان یې محمد

کافران واره ملول شول پخسیدل به — ته ناسخ د کفرستان یې محمد

کتابونه دې همه واره منسوخ کړل — نه په هسې رنګ الوان یې محمد

ترتا هیڅوک بهترین په جهان نشته — بهترین د درست جهان یې محمد

چې تر تا به څوک بهتر پیدا کوینه — د هغو زایل ایمان یې محمد

کافران دي چې باور په تا ونه کا — ته رښتینی بې ګومان یې محمد

پس له تا به نبي کله بل پیدا شي — چې ته ختم د نبیان یې محمد

زه حبیب مدام ژاړا کومه تاته — چې شفیع مې په هرآن یې محمد

خدای دې زار حبیب الله له تاسرو رکا

(۸۲) چې نبي آخـــر زمـــــان یې محمد (۲۵)

ولې کړې دلبره چې له مادرومې په منډه

و درې رقیب ته له اخلاصه مخ بر بنده

نه ښايي له تانه چې محروم دې کړم له دره

تل مې ژړوي ته بې اختیاره لکه کونده

نهال که نیشکر کړم شوم طالع مې هلته نه کا

تخم د ګلونو دی پیدا شو له ارهنده

څه ګناه مې شوې ده له لاسه نه پوهیږم

پورته مې راواخلي پیامې و ولي کر کنده

مادي ستا جورونه یکنهاو اره اخیستي

کله څوک توانیږي چې به و اخلی د غم پنده

زه چې ستا له غمه مدام او ښې و ینې ژاړم

ګوره تماشا شوم خلقه شوه په ما پنده

آەزەدې چو رچو ر کړ م خو ځیدی نەشم لەځایە

گر ځمە طو اف کړ م همیشە دگور پە هنلە

خەبەر انەو ایې چې بەچېرې هم جار و ځې

(۸۳) رزشە وحبیب تە کړە دلې خبرە لنایە (۸)

رایشە پەورو شەگړ ندی را خخەمەځە

پردی شوم بهرتە و هندی را خخە مەځە

اوردې پەمابل کەبیادې پر یشوم یو ازې

خدای روی ندی محبوبی سوز ند ی ر اخخەمەځە

سوزمەو ریتیېږم خەخو و گورە و ما تە

رحم پەماو کړە قهرندی ر اخخە مە ځە

خەد ستا پەزړە دی ولې نەوا یې و ما تە

زە خو دې پر دەیم پوښندی راخخە مەځە

زەدې پروانەیم تە سې شمع یې دو ړاندې

خواتە سې دسەشە سو لند ی ر اخخە مە ځە

زەدی یم سوندلی کەنورخوک پەجهان شتەدي

خە خود لسو زي کړەپر ندی ر اخخە مەځە

ځای پە ځای خبرې ستا زما دی سرە کیږي

خد ای ر وی دی ناترسې شرمندی ر ا خخە مەځە

(۸۴) اوس حبیب الە هم توبە گارناست دی لەعشقە

د روسە رنگ دې ور کشەسبدی راخخەمەځە (۸)

نن بەو ایم خوخبرې آەا رسان دی کند هارە *نبې خوبې بایستە نا د رې آەا رسان دی کند هار

سختې لارې د کابل دي ښه دا شوه په تيريدل دي
معتبر ز ما و يل دي آه ارمان دی کندهاره

چې راپورته له خيبر شوم ستر ګې مې په ژړل شوم
تو به ګار له پردو خپل شوم آه ارمان دی کندهاره

چې طالب د دنياو ينه په دا لاره دې و رځينه
دين به هم سوسي په سينه آه ارمان دی کندهاره

چې داخل په کندهار شوم نا آرامه پرقرار شوم
په ثناد کردګار شوم آه ارمان دی کندهاره

تلم راتلم په مسجدونه ځای په ځای وو ښه رودونه
په وخت و خت سې کړل نمونځونه آه ارمان دی کندهاره

هر سړی يې ثنا خوانؤ ، خندهر و يه خوش د ماڼؤ
په و يل فصيح ز بانؤ آه ارمان دی کندهاره

د عالموانبوهي و ه په هرلوري يې خوښي و ه
د هرچا په لمنبيوساسي (۱) و ه آه ارمان دی کندهاره

بيامزاريې ډير عالي دی، چه يې نوم با باولي دی
که يې خدای کاجنتي دی آه ارمان دی کندهاره

کندهار دی خوارلس برجه و داني يې يې د پرمښه ده
دا خبره در و غ نه ده آه ارمان دی کندهاره

وې خه ښې ښايسته خونې نه لرګی لري ښې و نې
ښې محکمې يې دي ستنې آه ارمان دی کندهاره

---

(۱) کتې ست وليکل شو.

خه عجبي بې کوټې دي چې ترو او رو هم سړې دي
تابه وې جنت محلې دي آه ارمان دی کندهاره

خه يې ښې درې خانې دي نه و ړې لوبې ميانې دي
مهوش بې رندانې دي آه ارمان دی کندهاره

پکې ناست خانان بسيار ه يو تر بله هم کناره
خدای دي کړي جنه داره آه ارمان دی کندهاره

د ېر په قهقه دوی خنديږي له دښمنه نه و يريږي
له بادشاهئ نې زار بيږي آه ارمان دی کندهاره

چې بادشاه يې د ېر عالي دي بيا د وهم يې شاه ولي دی
مستقيم په خپل و يې دی آه ارمان دی کندهاره

چې دوی دي د مجلس شمع ا لمونه دي پرې جمع
له هيچا نه کاندي طمع آه ارمان کندهاره

که دوی نه وی پيدا شوی خدايزده چې به ؤ اوس شوی
دوی سبب د عدل شوی آه ارمان دی کندهاره

چې يې نوم احمد بادشاه دی کل عالم د ده نيکخواه دی
شاه و لي يې پشت پناه دی آه ارمان دی کندهاره

احمدشاه دې نه کا خدای د بدانو به بدرای
دی بادشاه دی د هر ځای آه ارمان دی کندهاره

د ده عمر دې دراز وي چې د هر يو په رازوي (۱)
هر سړی پرې سرفراز وي آه ارمان دی کندهاره

---

(۱) په اصل کې «برابر» ليکل شوی دی.

خدای دێ و ر کا سلطنت تا بە رو ز قیامت
لە دشمنە فراغت آە ارما ن د ی کند هارە
خدای دێ و ر ک د دە بدان کا چێ غمو نە جاو دان تا
فریادو نە خان پە خان تا آە ارمان دی کند هارە
ای زمار ب جلا لە بادشا هی بێ کرە تما لە
بێ نقصا نە بێ زوالە آە ارمان دی کند هارە
بیامرزا چێ شهزادە دی نیک فرزند نیک دیدە دی
دی لە خایە فهمیدە دی آە ارمان دی کند هارە
دی لە هرچا بێ پروادی چێ د پلا رهر گور نیکخواە دی
د دشمن پە سربلا دی آە ارمان دی کند هارە
زە دعا دیرە کومە پە هر خای بێ شە ستا یمە
چێ رتبە بێ شێ قایمە آە ارمان دی کند هارە
یا الله العالمینە و یا خیر الناصرینە
پە فنراو و بێ کرمینە آە ارمان دی کند هارە
پابسێ شاە و لیخان پە هرچا دی مهربان
ورتە نە رسێ خانان آە ارمان دی کند هارە
زە بێ خەلرە ستا یمە پە قلم بێ خلە شکومە
خوە صنعت بە بێ کومە آە ارمان دی کند هارە
ددە خوی دی دیر حلیم پە هر کار دی دیر علیم
مظفر شو پە غلیم آە ارمان د ی کند هارە
چێ لە چاسرمو عدە کا پە و عدە بێ زرو نە بلە تا
نقصانێ کار و نە، نە کا آە ارمان دی کند هارە

په هر کار چې د ده علم هلته رسي نه ئاظلم
گل عالم و ده ته خرم آه ارمان دی گندهاره
شاه و لي ربتيا والي دی سحر خيزه ستند ي دی
ده هر چاسره شفيع دی آه ارمان دی گندهاره
د پادشاه ملتر ورهمه په شه د جنت نعمت دده شه
په هيڅ آن کې غم چنې سه شه آه ارمان دی گندهاره

بل به کله خوک پيداشي چې وده ته هو يداشي
بيايي رحم په هر چاشي آه ارمان دی گندهاره
خدای دې بې لوی کا تر دې د پر په غليم شه لا دلبر
چېرې مانه کاند ي هبر آه ارمان دی گندهار
برخوردار خه عجب ځوان دی چې وشاهه تير ترخان دی

هر غليم له ده پر يشان دی آه ارمان دی گندهاره
و غليم و ته تيار دی بې تعطيله بې گوزار دی
همېشه د شاه په کار دی آه ارمان دی گندهاره
چې بادشاه وايي هغه کا تير و ببر کار و نه نه کا

هر زمان وشاه ته تله کا آه ارمان دی گندهاره
ميلمه سنه نمانځي په سينه لکه سنه مين چې وينه
په مجلس بې خوښو ينه آه آه ارمان دی گندهاره
خدای دې لوی تر دې لا ډېر کا هر دښمن دې ترده زېر کا
چېرې نه وي چې ساهېر آه ارمان دی گندهار

بیاچې نوم یې ابدال خان دی دېر نیکخویه نیک زبان دی
په خدمت د میرزا خان دی آه ارمان دی کندهاره
پیداشوی فهمیده دی نیک سرشته نیک دیده دی
با حیادندان ژاله دی آه ارمان دی کندهار
شاه پسندخه عجب خان دی هرغلیم ورته لړزان دی
باعزت بلند مکان (۱) دی آه ارمان دی کند هاره
ښه بری یې دی له مخه پخوي په هر چازخه
خپله خواه یې کړله یخه آه ارمان دی کند هاره
خدای دې ور کاډېر نعمت مستتیم شه په راحت
با غیرته با عزت آه ارمان دی کند هاره
عظمت خان چې ددهنوم میلمه دوست نژ دې یې کوم دی
دی معطي دطعام اوم دی آه ارمان دی کندهاره
دده عمر دې خدای دېر کا هر غلیم دې ورته زېر کا
بیا بها د رو لکه شیر کا آه ارمان دی کندهاره
نور خانان هم واړه ښه دي چې دشاه لهښه کاته دي
جغه داره په ورتله دی آه ارمان دی کند هاره
بیان کا حبیب الله د دوستانو د الله
ته یې وبخښه مو لاآه ارمان دی کندهاره
په افسوس حبیبه ژاړه عین دزړه سد عاغواړه
(۸۵) گنه شاه غاړه په غاړه آه ارمان دی کندهاره (۵۳)

---

(۱) په اصل کی مقام راغلی دی

خدای دې راوله زماتر غیږې یاره
چې خبرې درازو کړو هم کناره
بې لقمانه درست جهان را ته تنور دی
لور د لور فریاد فریاد کړم ناقراره
د زړه ولې مې شوې غوڅې خدای خبردی
څه خورایشه زما د زړه د پاره
قراري دې په سازو د کړه خوب حرام دی
چې دې شاکړله وما وته یکباره
ته مې زهد وته څه بولې زاهده
زه لا کله یم د عشق له کاروزګاره
زاهدان به زهد پر بړدي که یې خدای کا
که خبر شي ستا د حسن له سینګاره
مخ دې سپین ، سترګې دې تورې کج ابرو یه
درغابنونه دې ابدار دي سفید واره
تورې زلفې دې اوږدې په فلیل غوړې
سروې قده ګلبدنه خوش رفتاره
لادپاسه دې پیزوان پرې اویزان کړ
عاشقان ګوره چې وسول له ګوزاره
چې دې ووینم له ورایه دم مې نه وي
که نژدې شې نور به څه شم له دیداره
(٨٦) که ژړا حبیب الله کاګرم یې مه کړه
ډیر عالم دی په غوغاستاله ناتاره (١١)

ژما زخم دی لاوس په تن برسېره

چې سې تمه د وفا ده ډېر ه دېره

زماز خم ستا غمز و دی پیدا کړی

بې پر وا یمه له تیره له شمشېره

در پو هیږم هیڅ پروا دې په مانه‌شي

ستا بشره ده زما یا ده تا کړه هېره

چې یودم مې له نظره پنا ه کیږ ي

سره لمبه مدام له ماګرزي چا پېره

څه خور ایشه زما په حا ل نظر کړه

ای تر درست جها ن و ماو ته را تېره

ناروا شه که بې تا سې څه تیر یږ ي

نو رڅه، څه دي خصو صاً لا یوه‌بېره

دستاغم مې همېشه په‌زړه‌کې پروت دی

ته پرو ا نه‌کړې ره‌د په ماد لېره

مدام ستا غمونه د ي په حبیب ا وري

(۸۷) ته‌خو بنې کوه که وسري ستاله کېره (۸)

واو ره داخبر ي نصیحت کوم په زو ره

ته‌پرې نه‌پو هېږې ګناهګارشولې هرګوره

ولې لیونی شوې چې‌پروا دې‌په‌چانه‌شي

تل کوې خو نو نه نر ناحقه تش په توره

ډېر دستاغرو ردی پر یو تلی په دماغ کې

ښکه‌شوې و یزا ره‌هم‌له‌پلا ره‌هم له موره

نه‌بو دې دوه قدمه چې مو لاد رنه راضي شي

در و مې په‌د نیا پسې یېل پښی ترلا هو ره

ته په داپوهیږ ې آخر تله دي له جهانه

نه‌و باسی خان خپل د دنیا له شر و شوره

نفس شیطان دي دواړه غلیمان دي فهم وکړه

دو اړه مر د و دان دي چې دي غم نه کا په کوره

خاو رې په سرو اچوه پخوا تر خپله مر گه

داسپینه قبا(۱) به دی کا مر گ په خاو ر و تو ره

زوړ ندسرته پر وت او سه مدام مر اقبه کړه

سه وایه چې خام یم لا مې بیره ده او س توره

گو ره دقضا سپاهی چې راشي برا بردی

خلاص یې په صحر ا کا که و تلی وي له کوره

او س حبیب الله مدام دیار کوي پو ښتنه

(۸۸) در و مې لتموي یې نه‌و یر یږي له پیغو ره (۱۰)

نن محبو ب و مله ر قیب سره و لا ړه

لاس یې ایښي و و یوه د بل په غاړه

و ر غلم نژدې شوم چې مې و لیدل په سترگو

زه یې په خاې پرې ښومه داو د ننگېده لاړه

---

(۱) په اصل کې «حبا» دی .

خدای روی دی ناترسي لرپه ماته رحم و کړه
و مرم ستا دیدن تمخه خوو دره و ژ اړه

نښته دی و فا د مهر و یا نو له جا نبه
د روسه بلي خوانه دامتاع دلته سه غواړه

کله که دلبر نظرد مهر پــه مــاو کا
زه بهو ر نه ځار کړم دجهان خوښیه و اړه

چېرې دی دیدن که دې باو رشي بې له غمه
خه لره هوس کوي مدام پرې پسې ژ اړه

نه چې عاشقي کوي بې غمه خله ناست بې
پاخه په سرو اچوه سیالی کندو نه دو اړه

صبر عاشقانو خخه چېرې دی نادانه
د روسه که عاشق يې چارپا یانو په خبرناړه

ناست خله په ځای يې ای حبیبه که یار غواړې

(۸۹) پاخه د تقوا جامه کړه تولهو يې نغاړه (۹)

راشه که هوښیار يې مدام غم دآخرت کړه
کړي دې کار و نه که منهي وي ندامت کړه

خه دی داپنځه و رځې ژ و ندو ن آخرته تیرشي
کیږده لاس په ږ یره پس له دې گور ه طاعت کړه

گوره پورو ړی چې د مرگ در باندې را شي
خلاص به دې خو ک نه کا پخواغم د دې ساعت کړه

پښ له مرگه گوره چې بیامرې له لوږې تندې
پاخه و لي پروت يې داځان په ځان قیامت کړه

گوره فهم وکړه چې سر توري دروڼ نکه

رایشه غافله ښه‌تو ښه دخپل عزت کړه

دروسه ښه‌مطلب له خدایه‌غواړه‌سه جاروزه

سخ په‌دغه کار کړه جهان‌وانړه لټ‌په‌لپ کړه

خدای بی درله درکاچې‌دی‌زړه شی‌ای حبیبه

(۹۰) ته‌چېر ته مه‌خوځه په‌خپل ځای کې قناعت کړه (۷)

یاله اصله پیداسه وای په جهازه

لاخبر مه وای له غمه د هجران زه

چې نه دا شوه نه هغه لاژوندی پایم

په‌د اکار کې همیشه یمه حیران زه

واره‌سهل دی که یار له ماسره وي

بې پروا یمه .شرمه رقیبان زه

نن بهاردی راشه سیل‌دباغ وکړه

بیابه څه لره وردرو‌سم‌په خزان زه

غم‌خوستادی چې‌همېش‌راباندې اوري

بې تا څه کوم غمونه د جهان زه

د یارخیال چې‌راسره‌وي غم‌سې نشته

که تنها له خلکه گرزم په بیابان زه

خدای‌دې ستاله‌دره مابله‌خوانه کا

څه کړم څه کړم بې جنته‌رضوان زه

د ستا نقش سې پهزړه کې الول دی

داوس شوي دي هوښیار یم کهنادان زه

چې سې ولېده جنا ستا ډېره ډېره

(۹۱) دحبيب پهځان مدام يمهګريان زه (۹)

خلهقسمونه خوري هميش دزړه دپاسه

کله سې باورستاپه قسم شي يې وسواسه

زه چې بېرته له عالمهکنا ره ځم

ډک سې زړه پهغمدی کلهيمه بې هراسه

مرد هغه بالهشي چې کلام يې يقيني وي

تهچې تش يې توري خپسر (۱) بولي خير الناسه

کم دي پهجهان کې چې يو کس دبل پهښهشي

مرد بو يهچې خلاص کاندي خپل کار لهخپلهلاسه

خوک کهډيري لافي کااميدپري باندې مه که

واوره په داپوه شهچې همه دي بې اساسې

و تړه محکم زړه پهخدای پورې کهمرد یې

بې له خدایه هرچې دي همهله زړه و باسه

ګوره بادشاهان دجهان هسهو اړه محکوم دي

څهدي واړه پوچ دي کهبهرام دی له قرطاسه

پروت وي بې غم خوب کابادشاهي يې وي قايمه

راشي دغنماسپاهي يې کوز کاندي لهلاسه

---

(۱) پهاصل کې «صبر» ليږل شوی دی .

هیڅ باور دي نه‌شي په‌داهسې و يل بانديږ
څه به رانه‌وا يې داپه‌څه کوي خناسه
زه حبیب‌الله به همېشه شکرگوزاريم

(۹۲) خدای که‌سې نګه کاندي له‌مکره له‌وسواسه (۱۰)

واشه که‌هوښیار یې‌سم طالب دکر دګارشه
هرچې دي‌سواله‌خدای له واړونه‌ويزارشه
ګوره هرچې‌خدای دي‌راستولي قبلوه يې
هرچې دي‌منهي کاروننه‌تري توبه‌ګارشه
مینه دموولاده‌چې‌په هرطرف مونده شي
پاڅه زړه محکم کړه له اخلاصه‌په‌دا کارشه
ګوره که‌ګناه دي وي له‌لاسه‌چېرې شوي
څله زهیر يږې «خدای» غفاردی‌امیدوارشه
ويره کړه له‌خدایه‌دقیامت له‌لو یې ورځې
ډېر يې عذابونه‌دي په خوف کې‌له‌قهارشه
مه‌پرې کوه نمه له جنته‌که مومن يې
غواړه پسې ژاړه له‌عذابه يه زارزارشه
هرچې‌زاهدان‌دي که‌شیخان که‌عالمان‌دي
واوره له اخلاصه له‌همه وځني زارشه
اې‌حبیب‌الله که‌دې‌سردي‌ده يك پرست شه

(۹۳) څله‌بل‌خوادروسې‌په کوځه‌دعغه یارشه (۸)

د دنیا طالبه راشه	مانې مه کوه پخلاشه
دنیا پریږده مانیهاهم	خاص طالب يې دعقباشه

ددوزخ و یره په زړه کړه | نور و ر د رومه په ژړا شه
چې طلب د زړه حاصل کړې | ها له پسه په خندا شه
داو یل زما ریښتیا دي | ته شنوا د دې و ینا شه
گرزه نړې گرد غبار کړه | په طاعت د پاک مولا شه
ته مشغول له ذکر او سه | مستحکم په داو ینا شه
پنج بنا گوره ادا کړه | رایشه ښه په تقوا شه
و خپل رب ته په سجود شه | له شیطانه تبرا شه
نفس شیطان دي دښمنان دي | گوره لرې نا و یساشه
هر چې خدای دي راستولي | قبلو ونکی یې پخوا شه
هر چې دي منهي کار ونه | له همه وارو سوا شه
روږه ریاگوره وسه کړه | بې له رویه بې ریاشه
هاله تمه د جنت کړه | په و یل قایم زما شه
که په زړه یې نور خه گرزي | و حبیب و ته بلا شه

ای حبیبه تل خدای بوله

(۹۵) همیشه پسه داو ینا شه (۱٦)

اې زما مینه یاره راشه راشه

مه جبینه گلعذاره راشه راشه

چې ته نه یې هر سړی په غم غمجن وي

اې دد رست مجلس سینگاره راشه راشه

دوازه شوندې خپلې پیرته کړه گویاشه

تنگ دهنه خوش گفتاره راشه راشه

چي دي مخ لكه د يوه هسي ځليږي

پري رو يه خوش ګفتاره راشه راشه

لمر سپوږمۍ هم ستا له مخه نه شرميږي

اې په قد سروې چناره راشه راشه

خداى په ځاى دستا دښكلي مخ تماشي

اې د ګل جهان په كاره راشه راشه

ستا د ښكلي سپين كي مخ به څو تعريف كړم

تر يان و تلي يا ره راشه راشه

در ست صورت دي ګويا ګل دى د ګلزار نو

لا تر ګله خوش نثاره راشه راشه

له سپين مخ دي بيماران دي چي ژيړيږي

اې خونيِ زلفي تارتا ره راشه راشه

چي ته نه يې په خبيب با ندې ژړاوي

(۹۵) اې طبيب در ږه بيماره راشه راشه (۱۰)

را يشه عاقله تو به كارشه له اخلاصه

خداى بو له دا يه به دا كار شه له اخلاصه

هر څو كه ګناه دې وي له لاسه چيري شوي

در و مه په زارى كي د غفار شه له اخلاصه

بدي عذاب نه دي بې غم خه لر مناست بي

وا و ره په غور و نو به زارزار شه له اخلاصه

ګوره فهم و كړ د شيطان په رضا نه شي

مه يي او ره خبري ترې و بيزار شه له اخلاصه

هرچیە وافق وي له آیته لەحدیثه
واڕە قبلو دو رخخه زارشه لەا خلاصه

مەخه کەپو هیری پەدنیاپسە ي هوشیاره
ناستاو سەبند گي کرەپەقر ارشەله اخلاصه

نفس و شیطان دو اڕە عراقي آسو نەستادي
سپو رشه پري تیزەبي شهسو ارشەله اخلاصه

رحم پەعاجزو کرەچي خدای دي نگهبان شي
شەپه غورووا ور ه پەبار بارشەله اخلاصه

اي حبیب اللهخلەمدام کوي خبري
(۹) درو مەپەتماد کردگارشەلەاخلاصه (۹٦)

یارەي دروەي لەجها نەدر یغەدر یغه
زڕه ەي چوي لەار مانه در یغه در یغه

کەهر څوبي طبیبا ندا رو دوا کا
مرگ بي بیا یيبي ساما نەدر یغه در یغه

ورنەگو رم همکي زیر زمین شول
چيەبر لوی و ترآسما نه(۱) در یغەد ریغه

کەو ر دروەم پەقبر ونو بي طواف کڕم
خو اب نه کا یم ناالا نه در یغه در یغه

قراري ەي کله کیږي خوب ەي ورکشو
یم مد ام سینه بر یانه در یغه در یغه

---

(۱) پەاصل کي «استا نه» راغلی دی ښايي چي سم شکل ئي «اسمانه» وی.

که مسند لرەبێ و رشم هیخ بێ نەوي
فریادي یم له هجر انه دریغه دریغه
چێ آشنا سێ پکێ لاڕ و و لحد ته
بهار خه کڕ م لەخزا نەد ریغه دریغه
پەژ ڕ اژڕانژدێ شول‌و لحد ته
چێ خو شالەو و خند انەدر یغەدر یغه
و ارسێ راغی پری‌پو هیرم چێ نژ دێ شو
خوبه گرزم خر امانه در یغه در یغه
د حبیب بێ خدا یه بله هیله نشته
امید و ار دی له سبحا نەدر یغەدر یغه
وای دستا پەخا ن حبیبه نەپو هیرم
(۹۷) تو بنەو اخله لەرضو انەدر یغەدر یغه (۱۱)
درو مەمینه محبت کڕەله اشرافه
تبر اشه له نا کسه بێ ا نصا فه
که گناەوي چاپەقصد پەسهوه کڕي
تاله بو یه چێ بێ کڕ ێ و ر تەمعا فه
که پەاصل کێ پښتو نوي چێ بدخوی شي
زار شه زار شه تر قصابه تر ند افه
خپل پردي شي چێ بدخوی شي پەمعنا کێ
پر دی خپل کا نیک سر شتەنیکڅا لطافه
کینەمه کڕه لەهیچا کەجنت غو اڕي
زنبو ر شهد پیدا کوي له هست صافه

نه‌پو هیږم ستاپه‌زړه کې‌څه پرانه دي
اصل کله معلوسیږي له‌غلا فه

تا چې خپله گناه پټه په صورت کړه
پوشیده نه‌پاتو کیږي له صرافه

قضا راغله ورته‌نېښتک شه که څه‌مردېې
چې همېش‌به‌دې کو له ډېرملا فه

داسم قددې چې‌الف‌دی په ځوانی کې
په پیری کې‌به‌شي خم‌له‌نو نه‌ډانه

ته چې هسې‌بې پرو اسغرو ره‌نسټ يې
خبر نه يې د شیطان له اختلافه

په‌دنیا کې دیارمینه ده حبیبه

(٩٨) څه‌به‌و ایې‌نور څه‌شته تر کوه‌قانه (١١)

زړه سې‌وچاو دآه‌ارمان دی له‌فراقه
چې‌سدا م دی یار له‌ساسره ناچاقه

مړو ندو نه دې هر گوره‌ښا یسته دي
عاشق‌و ژ نې‌چې‌بر بنه‌بې کړې‌له‌چاقه

هیڅ پرو ادې په‌سانه شي بې پرو ايې
نه‌و بر یري‌شاعر ان شاگرد له عاقه

چې رقیب‌دې و خپل ځان‌و ته‌نژدې کړ
له دې غمه مې سینه‌شوله سا لاقه

زه دې ډوب کړم دغمو نو په‌دریاب کې
ستاسو گنادی سر کړه هسکه له‌استغراقه

ماوي اوس به دې ديدن كړم چې مې يار شوې

خبر نه وم ستا له هسې رنګ نفاقه

بې پروا حبيب الله دى له کل غمه

(۹۹) ډېر وير يږي ستاد هجر له تاراقه (۷)

د دنيا مينه مې و وته له واکه

نار واشه که ذره په ما پروا که

واړه لاړل پرديسي شول له وطنه

وار زما شو لاس مې پر يمينځل له ژواکه

په ورتله راتله مې ځان پسې چورچور که

بې پرواله ماپراته دي مشغولا كه

چې مدام به مې ديدن په هر سحر كړ

اوس بنديان د عزرائيل شول له افلاکه

د سلوك په تيغ يې ژبه شوه قاطعه

هم حبه يې الول شوله ، له خاکه

مردهغه بولم چې ځان پخپله ژاړي

نه هغه دى چې په بل باندې ژړا كه

چا چې ځان دى په دنيا کې خپل ژړلى

پس له مرګه به په قبر کې خندا كه

آه ارمان دى د دنيا وګړي واړه

چې نـــه ذكر كا نه فكر نه ثنا كه

مې بايد چې مدام غم د آخرت كړې

تبرا اوسه لـــه كفره لـــه اشراكه

خان ددین پەچارکي ووژنه که مرد بي
پەدا کارکي شه محکم حبیب چالا که
له حبیبه سره غم د آخرت دی
(۱۰۰) چي پەصبح وشام مدام دروسي گریاکه (۱۱)
اوس پەمرگ خوشبیرم پەدنیاکي لەدي ژواکه
ووتم لەکلي پەصحر اگر زم بيواکه
خلك مشغول لاغواړي بنا دي پەماحرام دی
خمکه پە ساورشو ملا پەپورته تر افلاکه
درست جهان پەساباندي باران غوندي ژړیږي
پورته پەهواکي لامر غونه همغو غاکه
واړه نعمتونه د جهان دي پە ما زهر
ووتم بیمارشوم ستا پەغم کي له خوراکه
داد روشو کاردی که خوراك دی که پوشاك دی
خه دي دبیمارو، لیونیوله پوشاکه
اوس چي پەخای پروت یمه بي تانه بي طاقته
درست جهان ولاړ دی پەتندي مي تماشاکه
گله ژوندي کاندي د یدنونه دحورانو
هله بي وصال وي چي ژوندون دلته فناکه
زه یوازي نه یم چي پەتا پسي ژړاکړم
گوره شکته پورته درست جهان واړه گریاکه
نه که دمعشوق پەدلب گرزي خان فناکړه
واورهدا خبری درست جهان به ستاثناکا

ستا د غم لمبې دي په تندي زما بليږي

(۱۰۱) داو بيږو گرۍ چې حبيبه ډېر بلا که (۱۰)

داز ما دلبر په خه که — چې خبرې له ما نه که

که بند م سر و مال دواړه — نه يې اخلي په کونجکه

دوست جهان را ته نور شي — چې مې يار رقيب ته تله که (۱)

د رقيب علاج اسان دی — که مې يار خه خوله زره که

واړه د اند ی په ماشوی — چې مې يار و يل خوا ره که

چې ته نه يې په ماغم شي — له خبيره تر ا نمکه

رقيبان په ما يو هيږی — چې بدي به نور ونه که

دحبيب و يل خواږه دي

(۱۰۲) له مومنده له ختکه (۸)

نن مې محبوبا په ستر گو و ليده خو شر نگه

زړه يې له ما يو وړ که مې کيني لږ له خنگه

حال به د زړه خه و ايم چې خه په ما تير يږي

گوره خو د شه گندی شمع شه کاله پتنگه

زه چې تصور په زړه ملال د يار کاته کړم

عقل مې بر هم شي و و کم له نام و ننگه

خه لر مې و ژ نې دلسوزي را باندې نه کړې

خو بس دې دی رقيب عناد لرې له ما ملنگه

ته چې خوش د ماغه يې پر وادې په چا نه شي

خه دي باد شاهان د جهان واړه لا درنگه

---

(۱) په اصل کې سم نه لوستل کيږي .

ستر گي دي يلادي تور بانه کاگو زارونه
وروځي دي ليندی دي سپينکی مخ دي افتاب رنگه

راکړه ی دلبو چي بي و خبمه په سينه
صافه پري سينه کړ مه چي سوي ده له زنگه

ته چي بي همراز بي بي پرو الکه بلبل يم
مست خماري گرزم بي شر ابو بي له بنگه

ستانظر گوز اردی بي پرهاره په مالگي
ئه مي شي پرو اله بله تير مله تفنگه

خه لر مچي و ژني چي له دره دي محروم کړم
دم مي په خاي خيز يچي مي و لي له پالنگه

زه حبيب الله بي هو شه پريو زمه له درده
(۱۰۳) ناسته چي دي و ينم له رقيبه مخ بدرنگه (۱)

ولي ليو نی شو لي ز ماخر ابه دله
خان دي خماري کړ درپو هيرمه پخپله

خدای په سينه بوله چي له لاري غلط نه شي
نوس په تا پسي کو زپه مز که و له

و ير مله دو زخه کړه چي خرنگه عذاب دی
خلاص به د ی مو لاکه له عمله سر مله

ښه ښه نعمتونه دي له حور و براقونو
مرد شه که دي خپل کړل په سينه باندي يي نښله

---

(۱) اصل: «ناست چي دي وه وينم له رقيبه مخ بدرنگه»

گوره نعمتونه د جهان و اړه ناقص دي
ښه نعمت هوري دی چې مدام به وي ترتله

د رومه‌لاس و پښې د هر سړي په خدمت نیسه
گوندي ملاقات دي چېرې وشي له کامله

د روسې چې ډمان وي سرودي و رلره ورشې
نه ړ دې دوه قدمه ته‌د خدای په‌لار کې شاله

ډېر ته‌له‌جاهل او سه که هر څودې آشناوي
را یشه پـــه مینه لـــه عاقله سره ماله

پروت به‌وي مدام حبیب‌الله د یار په در کې
خدای که بې‌ننگاه کا په دنیا کې له‌مغله

(۱۰۳)

(۱۰)

راشه که هوښیار بې‌داو یناسې کړه‌قبوله
ښه یې در ته و ایم و لې‌نه‌اوري مجهوله

عمر دې تیر ېږي نه‌یې غمه و لې ناست یې
نه یې خبر دار را معلومیږي له‌وصوله

دا به‌ماله‌غم کړه(۱) چې مې زوی دی یا مې مال دی
پاتو به‌په خدای شې‌نه‌پو هیږم نامعقوله

هیڅ به‌دې په کار نه‌شي که‌زو یه‌دي یالو نې
بې‌د خدای له‌و رکړ و لږ لقمه دې ده‌قبوله

چېرې چې و رکړی دې ککوړی وي فقیر له
دا به دې په کار شي چې‌بلاشي د رنزوله

(۱) اصل: «دابه‌ماالغمه» .

دېرعمردې تېرشولېږ وندون دې باقي شته‌دی
وابي خلاص‌به کله‌شي دزړه له‌بده نوله

دېر بيې عذابونه دې آيت په‌دا ناطق دی
دروسه اميدوارد شفاعت شه‌له رسوله

بې له‌فضله بله هيله نشته دی يقين دی
تاسره ضروردی چې په ذکرشي مشغوله

اې حبيب‌الله‌مر دې دې داده که پوهېږې
ورکه کړه له‌ميانه‌و حضرت ته‌دتن پوله (۹)

(۱۰۵)

ترو غافله ولې ناست بې زماد له
د اشنا صورت په زړه‌کړه پسې زغله

که‌ته‌نه‌يې خبردارد عشق له خاره
ورشه وګوره چې شه‌کاندي بلبله

بيداري او شبګيري کړه‌که د انابې
وصال نشته چې له ياره يې غافله

د پتنګ وبل خراغ وته پروازو
ياري بيامونډ چې جثه‌يې‌وسيزله

وست‌چې خان په يارپسې جلعاکه
دابې هوشه وه‌پروابې نه‌کېډله

زليخا وصال عاله ديوسف‌بيامونډ
چې ويارته‌شوه ورتېره ترخان‌خپله

دابيلتون دې چې‌سې‌اور په‌تندې بل‌دی
شين‌لوګی سې هميش خيژي له‌ګوګله

دوصال نعمتەی نشتە دی پو هیرم

دهجران خوا ری‌سی‌برحە شوتر تلە

زەحبیب چی آشنانەو ینم پەستر گو

(۱۰۶) پیسنو رراتە تنو رشی تر کابلە (۹)

را شەر اشە گل اند امە

پری رو یەماه تما مە

آ هو چشمە گلبد نە

سرو ی قدە خوش خر امە

تور بانە دی ناو کی دی

کمان و روخی نیک فرجامە

دو ارە ز لفی‌شامار ان دی

سیم غب غبە صبح شامە

بی‌لەتام ی‌ژو ندو ن خەدی

تمام عمر بی آر امە

خدای حاضر حضو ر دانادی

دبر شم خو بن ستالە پیغامە

چی دی نەو ینم پە ستر گو

بنە لقمە پەما حر امە

ر اشە خو اکرو سر ەیخە

آخر تلەد ی لە دی گر امە

همیشە سی‌دا پەز رە وی

چی‌نو سەر اکری انعامە

د رپو هيرم ناپو هي کړې

چې راځې بې سرانجامه

حبيب ستا په کوڅه خو ښردی

(۱۰۷) اورنګ ځه کاله بهرامه (۱۱)

لاړل ياران لاړل زړه مې چوي په ارمانونه
کله مې آرام شي په ساپر يو اته غمونه

اوس که پسې ژاړم هيڅ دمه مې دزړه نه شي
دروې مې په مخ باندې داو ښو بارانونه

خدای خبر چې کوم مې خواته لاړه ليده نه شي
تل يې لټومه اوس په چول بيابانونه

لاس مې باندې نه رسي که هر خو تردد کړم
لاندې شول تر خاورو باندې پريوته قبرونه

ډېر وړته ناري وهم ځواب و ماته نه کا
داوايم په زړه کې چې اوده دي په خوبونه

ښې بشرې مخينې نازولې په نعمت وې
اوس پرې باندې پر يواته انبار انبار ګردونه

لاس که دواړه مړوم تسله مې د زړه نه شي
لاړل هغه ښکلي د نازمينو بشرونه

راغی وارمې راغی پرې پوهيږم چې نژدې شو
ګوره د سرګي دي نازل شوي ناتارونه

پروت ولې غافل يې د قيامت توښه پيدا کړه
کوچ دی تياری کړه چې بيانه کړې ارمانونه

داگومان و مه کړه چې به پایم تر قیامته

گوره په شماره دي د فاني دنیا عمرونه

خه لره مغرور بې باوره مه کړه چې به خلاص شي

وگوره چې خه شول ستا یاران لکه بارونه

اوس حبیب الله دی چې د مرگ په تونه گرزي

(۱۰۸) پرې بې شو وه و اره د فاني دنیا غارونه(۱)　　(۱۲)

زه عاشق ستا د وصال یم ماه جبینه

بې تاشه کړم د رست جهان له خوا نبنه

چې دې یو ساعت وصال را سره و شي

همیشه خمار ي گرزم ستا په مینه

داخو زه و تاته تېر تر سر و مال یم

که بل خوک هم په دا رنگ مین لر بنه

تار واشه که له تا به وجار و خم

که مې ستا په عشق کې سر له تنه خبنه

ته چې ماته همېشه د روغجن وایې

هغه کوم دی چې له مار بښني وینه

سر و مال د و اړه زما تر تا قربان شه

نور به خه وي تر دې وایه نازنینه

داپوهیږم هر چې عشق یې په رښتیا وي

هغه تل د دلبرانو جفا وړینه

---

(۱) په اصل کې «غارونه» لیکل شوی دی خو کیدای شي چې «کارونه» هم ولوستل شي.

دا د ستا جمال هرگوره ښایسته دی

پهٔ گو گل دخوار عشق او رلگو ینه

که ته نه‌وای پیدا شوی خدای خبر دی

په اسمان کې به هیڅ نه ؤ له زمینه

بلبلا ن چې تل په گلو چغا ر کاندي

دازمان ستادښایست دی چې کوینه

اوس حبیب دی چې دستا په غم کې ژاړي

ته پر و اپرې هرگز نه کوې خو دیینه

زه حبیب الله دغم په دریاب ډوب شوم

(۱۰۹) ته باور نه کړې په داو یل ضیأ الدینه (۱۳)

دم مې خیژي پرحزریم له هجرانه

د ستاغم دی په ما اوري جاودانه

که وصال دې یو زمان دی په داخه شو

په بها ر ببل فریاد کاله خزانه

په دنیا کې له جمله غمه بې غم یم

ډیر ویریږم ستا د هجرله توپانه

نه پوهیږم چې انسان دی پیدا شوی

که ملک دی راکوز شوی له اسمانه

زه د ستا په غم کې اوښې وینې ژاړم

په بارش کې ډیر تیری کړم بارانه

دا پوهیږم که یو دم رانه جدا شې

په ژوندون کې به ورنه شم ترزمانه

زه دستا په مينه سر و مال ښند مه

درست جهان زار شه له ما د ستا نرخانه

که عذاب دی ستا د هجر په ما گران دی

بې پروايم له عذابه دنيرانه

اوس هر گوره د شواري شو له را پېښه

ما گټلې عاشقي وه ستا اسانه

زه حبيب مدام دستا په غم کې ژاړم

بې پروايمه بې تاله درست جهانه (١١٠) (١٠)

مه کوه هو ښياره د دنيا په چارې مينه

وارښه يارانو دي په ارمان له دنيا خېنه

واره به فاني شي بې له خدايه چې مخلوق دی

کله بيا په بېرته په فاني دنيا راځينه

دادې خه مردي ده چې له خدايه بېرته گرځي

هر چې اهل الله دي په طاعت د خدای کې وينه

وخت دې دولجې دی په ځای پروت ولې عاطل يې

پورته شه تلوار که خه حاصل راوړه له دينه

هيڅوک پاتو شوني نه دي زردی چې به دروسي

هر چې په فاني دنيا مين را غلي دينه

ولې خاوري نا چوې په سر له خپله لاسه

(١١١) . . . . (١) (٦)

---

(١) دغه غزل و روستي بيتونه نشته .

در يغەمە واى دهجر ان سخته بيلتونه

چې سې نه تلاى پە خاطر با ندې سيځونه

چې يو دم سې لەنظر ەبير ته ووځې

همېشه سې پەسخ د روسې شنەرو دونه

باربردار دستا غمونو نور څوک نشته

که يو ازې پەسا پريو انه غمونه

کەسين دنا پە حسن باندې نەو اى

مابه څه لر ەکو لد ايبا نو نه

رانەوايەچې دې مدحه کړم کەذم کړم

پەماپر يو اته دغم لوى لوى پنډونه

زه يو ازې پە تا کله مبتلا يم

بلبلان کا پە چمن کې چغارو نه

همېشه سې پە گوگل باندې خرخيږي

بې حسابەد هجران تيره خار و نه

اوس ملهمدو صال تەرا کړه(۱)دلبره

چې دې تيغ د هجرو کړل پرهارونه

ستا دسترگو تش نظر دتيغ گو زا ردى

وايه څله کړې دتور وگ وزار ونه

کړې و روځې دې ليند ې بانەد ې غشي

دواړه زلفې دې پەسخ دې سارو نه

---

(۱) پەاصل کې«رانەراکړه»ليکل شوى دى.

اوس دې و اردی که‌وفاو که‌جفا کړې
همېشه په هیڅا نه‌و ي د ا وار ونه
حبیب ستاپه «دې» جفاخو بڼوخرمدی
که‌وفا کړې لاد ې ډېر دي څوابونه (۱۱۲) (۱۱۳)

- - - - - - - - - - - - - - - (۱)

بې نوا یم مر و رله د ې جهانه
تا جد ا کړ بنه مین له‌ما هجر ا نه
په‌ځای پر و ت‌یم‌بې نو اله‌دې ارما نه
چې‌محبوب‌په‌سترګو نه‌وینم قسم دی (۲)
راښکا ر یږي دادنیا راته و یر ا نه
چې یو دم مې‌له نظر ه پناه کیږ ې
جهان‌تنګ کړ ي‌پر ما باند ې ترز ندانه
اوس تو به‌تو به نعرې و هم‌ځا ن‌ژ ا ړم
چې‌خ برشو م ستاد هجر له تو پا نه
لکه‌کب چې په ژ و ند و ني تلاوه‌شي
یاره ستا ده جد ایي «دا» هسې ګرا نه
په ژ ړاژړاې زړه ور پسې خو ږشو
د ژ و ند و ن تمه مې نه‌کیږي له ځا نه
د دنیاله ډېرې سختې بې پر وایم
که مې خدای کاستاد عشق سختي‌آسانه

---

(۱) دمطلع دبیت لو مړی مسری نشته .

(۲) اصل: چې‌دلبر محبو ب‌په‌ستر ګو نه‌و ینم‌قسم‌دی .

تهچې راغلې په خندا زماولو رته
چېرې نه وې چې رقيب دې کاپښېمانه

که رقيب لهخپله و ره‌نه‌بدر کړې
سربلند به شم له خلکه تر آسمانه

چې خپل يار رانه‌رقيب‌شو بلادا شوه
په ما پر يوتې د يا رسختنه هجرانه

داحبيب‌دی چې‌صورت بې‌دغم‌خای شو
که‌بل خوک هم‌په جهان شته‌بې له‌مانه

اوس مدام حبيب‌الله په غم و رتيرې
(۱۱۳) لکه‌کب په کړيی کې وې بريانه (۱۳)

ده وې مخ ته‌زماگو ره ،ماوې ستر گې‌په‌ليمه
ده وې مه کړه‌مينه نو ره ،ماوې ستر گې‌په‌ليمه

ده‌وې مخ مې‌ښايسته‌دی،ماوې مړه‌دې عاشقان کړل
ده‌وې مه‌درومه‌تر کوره ، ماوې ستر گې په‌ليمه

ده وې نور بانه‌مې‌شه‌دي ، ماوې غشي‌لاجبری دی
ده‌وې ولم‌دې په زوره ، ماوې ستر گې په‌ليمه

ده‌وې خوک دې دښمنان دي، ماويل‌سپي‌رقيبان دي
ده و يلې‌درومه‌زوره، ماوې ستر گې‌په‌ليمه

ده وې‌خه‌په جهان ښه‌دي ،ماوې بدسته‌هجران دی
ده وې مه کړه مينه‌نوره ، ماوې ستر گې‌په‌ليمه

دەوې خەلرە افسوس کړې،ماوې ستادعشق لمبې دي

ده وې ځان ژغوره لەاوره ، ماوې سترگې پەليمه

ده وې سه کوه غمونه، ماوې ډېر پە زړه زهيريم

ده وې خه راضي‌شوې‌گوره ، ماوې سترگې پەليمه

دەوې ستاپه زړه کې‌خەدي،ماو يل‌حبيب تاغوارم

ده وې ستايم لورد لوره ، ماوې سترگې په ليمه

ده وې اې حبيب‌اللهخه ،وماوې چېرې لەتادروسم

(۱۱۴) ده وې لرې له پيغوره ، ماوې سترگې په ليمه (۹)

پاس‌پەسرسې دمرغونو«چې» ژړاشوه

دابې‌قطع‌د ژوندون تمەلە ماشوه

چې يې ولېدەجفا ستا ډېره ، ډېره

لەدې غمەهر کاله کره غوغاشوه

نورعالم‌هم چېر تەشتەدي ستاپەغم کې

که د ابخره ازلي تنهازما شوه

وايەزه بەهم هغه کړم چې خەوابې

هيڅ پروا دې په مانەنسې خه بلاشوه

زه يوازې په تانه يم مين شوی

خلقه گوره چې‌کل پەو او يلا شوه

اوس کەيېرته خنې‌گرزم نه خلاصيږم

په صورت سې ستادعشق بلا لگياشوه

چې‌دې لوړسې‌درانلولاره پرې‌بندکړه

ستادغم وياله ، لەکوسه په ماواشوه

داکم بخت د در ست جهان یمه پو هیرم
چې مدام دخپل آشناو ماته شاشوه

سپی رقیب دې هم له دره دی شړلی
که پهما دستاکو خهتل‌نا رواشوه

تمه پرې کړه له حبیب له خپله ژ ونده
(۱۱۵) چې دیار مینه مدام پته په غلاشوه (۱۰)

ساقي راوړه د میو پیما نه
چې بې نوش کړمه په مینه مستانه

هغه کوم دی چې له دره دې محروم دی
ته له ماو اخله د حسن بیا نه

چې دستا په درکې د روسي ځان نهاکا
زه یې هم گڼم د مینې رندانه

په دنیاکې که څه دي کار و نه دادي
چې و ږد رو مي په دیدن دجا نانه

وایه چېرې دی طاقت دعا شقانو
چې و رو اړوي عینیني قتلا نه

نو ر جهان واړه نامرد را شکاره کیږي
بې له عشقه چې یې کار دی رندانه

نه پو هیږم چې په زړه دې پراته څه دي (۱)
(۱۱۶) چې حبیب گڼې له دره بیگانه (۷)

---

(۱) اصل :«نه پو هیږ م چې په زړه دپر اته خدای » .

یار سې پەزړه کېمدعانېو لېده

قسم دی یا ره قضا را غلېده

چې خبر دار شو مدستا له غمه

څبله حبه سې گور ه ژړلېده

چېسر یکا ریېوي مدام لەعشقه

دغمو نو و نەیېپەزړ ه کر لېده

داخوهمته یې چېپیغو ر و نه کړې

غو ره سې کله د چاز غلی ده

نور خو ک‌همشته دی چېستاغمو نه

کەدغمو لەدې چا شندلې (۲)ده

دو کان دصبر دحبیب‌لو ټ کړ

(۱۱۷) کەخلکه دامېنوره لو ټلېده (٦)

---

(۱) پەاصل کې «غره»لیکل‌شوی د ه.

(۲) پەاصل کې«شنډلې»لیکل‌شوې ده.

« ی »

ته چې نه کوې له ما سره خبرې
راپسې وکړه دغم تورې لښکرې

زه چې خوالره درځمه ستادیدن له
ته له ورایه راته وایې لرې لرې

واړه زهر شي زماتر ستوني دروسی
که بې تا خوک راکوي شهد و شکرې

تو ربانه دې گو یا غشي لاجبري دي
نه د ر یږي له چلقته هم له زغرې

پرې پوهیږم دادې واړه عشق خاسي ده
چې طعام په هرزمان بې یاره نغرې

بې غمي راباندې زو ږشوه خوب حرام دی
تل رقیب وایي زما په غم سندرې

ته هرگوره ناویسا را څخه گرزې
زه دې وسوسه په غم داورد سرې

عالمونه په آرزو درلره راغلل
مخ ښکاره کړه چې دې وو یني نادرې

چې دستادخطو خال په ثنا کښیووت
(۱۱۸) دحبیب ځکه ویل شول سرغاړې (۹)

یو اشنا مې پاتو نه شو په جهان کې
واړه پر یواته د قبر په زندان کې

دجهان خوارہ ہیٖوا رہ لہما یوورل
چيٖ سینرا خخہلاڕپہد ازما نکيٖ
کہوردروسم یوخوابلخواخنيٖ گرزم
راتہنہکاخوکخواب پہگورستانکيٖ
نہپوہیږم چيٖد اخوب دیزنکولی
کہنیولی يیٖخہ خیز دی پہدهانکيٖ
خہ خطا دہلہ ماشويٖ نہ پو هیږم
چيٖخبريٖ راتہنہ کاپہهیځ آن کيٖ
هیځ دمہسيٖ پہد ارو غ وگږي نہشي
مدام سرگرزم پہچو لو بیا بانکيٖ
آہارمان دیدمجلس یاران سيٖلاړل
چيٖبہتللہما سرہوو پہسامان کی
دقضا سپا هيٖو لاړدی تیږ ہتورہ
خلاصینہمومم پہزمکہپہآسمان کيٖ
پريٖ پو هیږم چيٖقضاد حبیب راغلہ
(١١٩) طبیبان بيٖدہبرعاجزشول پہدرمانکيٖ (٩)
دزړہدولیٖمیٖشويٖ غوخيٖپہهجران کيٖ
دوصال نعمتدی چيٖريٖ بہجهانکيٖ
هرچيٖ ستا پہتور وزلفو مبتلا شي
آرام نہمومي پہزمکہ پہاسمان کيٖ
چيٖدستاوصال پہزړہ کړم هسيٖخو بنرشم
لکہخو شيٖوي بلبليٖبہ بوستانکيٖ

بلبلان چې تل چغار کامرا دیې دادی
چې به څه کړم نه پوهیږم په خزان کې

دسپین مخ شغلې دې تیرې تر افتاب دي
سیال دې نشته په ایران و په توران کې

بې غمې په ما حرام ده خوب سې و رکئ شو
چې شو نقش دستا خیال زما په ځان کې

یاره ته چې ما ته وا یې چې ژړا کړه
قرار يې د عاشق نه وي په هیڅ آن کې

یوز مان چې دې و نه و ینم په ستر گو
جهان دوب کړ مه داو ښو په باران کې

د خلل ځای پکې نه و ینم هیڅیر ته
چې نظر و کړم په شعر د رحما ن کې

گوره ستاله غمه ورك حبیب الله شو

(۱۲۰) لیونی گرځي په چول وبیابان کی (۰۱)

نن سې و لیده محبوبه په سینگار کې
چې ر و انه وه بر بنډه په بازار کې

فلیلي ز لفې یې غوړې په سپین مخ کې
دعا شق زړونه پیبلي په هرتار کې

چې دشپې وآ از یې اورم هسې خو ښیم
لکه خو ښې وي بلبلې په بهار کې

هر قدم یې پاس په ز ړه دعا شق لګي
هسې شان لري گلر خه په رفتار کې

کەد عشق لمبه مې بله پەتند يوي

سمندر يم بې پر و ادعشق پەنار کې

دجهان خوارە بەوارە ترې قربان کړم

کە دلبر مې خەخوراشي پەکنار کې

تەچې تل خاندې زما پە ژړا باندې

بې زگير ويه نورخەنشتەپەبيمار کې

د باغ سيل دى گلونه شگفته دي

دا بلبلې ولې نشته پە گلزار کې

زەحبيب چې دخزان خوارى پەزړه کړم

(۱۲۱) لەدې غمەښادي نەوي پەبهار کې (۱۹)

مور وې زيړوالى تەهلك زمونږدوړ اندې

بياچې شوې (۱) هوښيار سدام پەمونږه پورې خاندې

و زيړي لەموره هلك لوى شي ماوريږي کې

کوږدستار پەسر کابيادې مخ تەښکنځل کاندې

کله بې خواب خوك جاراېستى شي لەدهشته

گفت کەبې بدل کادوارە کيږدي لاندې باندې

دروسيرو انيږى کلەښکتە کله پورته

نەشي سهيد لى نه دننه نەد باند ې

گوره چې نامە يې دەپە ملکو ملکو تللې

دى يې پەغرور و هوس و اړه گنمې لاندې

---

(۱) پەاصل کې «شي» ليکل شوى دى .

نه‌گوري خواری ،مشقت دسورو پلارته

داوايي‌په زوره ستاسوخه‌دي په ماباندې

زه حبيب‌الله‌په‌ژوندون نه‌وم‌پوهيدلی

اوس‌چې‌خبر دارشوم دواړه دي ترخاورلاندې

اوشيو دحبيب‌په سخ کې لارې کړلې روغې

(۱۲۲) لاس‌که‌دواړه مړي‌ساعت تېر دی‌سودنه‌کاندې (۸)

ستا دعشق لمبې سې‌بلې په تندي دي

هر زمان په پورته خيژي په‌زياتي دي

عاشقان لکه پتنګ ته يې چراغ يې

بې پروا هه همېشه د ځان په سوي دي

هيڅ گومان پرې باندې مه کړه چې‌به روغ شي

دستی په خير په يار پسې ستي دي

عاشقان آدم درخوګوره يا يري

پيدا کړي په‌دنيا کې خدای (ج) غمي‌دي

هم ليلامجنون‌تېر شوي ساعاشقان دي

هر يو بل ته داخلاص په شه‌و يي‌دي

دلربا هه‌ستا په دورعاشقان دي

چې په تو روزلفوستا په بند بندي دي

نه‌چې‌وايې چې وردرومه‌بلې‌خواته

کوم درونه ستاله دره، بريالي دي

دا تالافې دي ودوی وته وهلې

رقيبان ځکه ومانه په زياتي دي

ته چې وايې چې بې غمه ولې نه يې
عاشقان کله په صبر قرار دي
که وفا کړې که جفا کړې ندې وخت دی
د دنيا کاروبار ټول وار په فاني دي
زه حبيب يو ازې ستا په مينه مست يم
(۱۲۳) نورعالم دجهان واره ځاني دي (۱۱)
د زړه ولې سې شوې غوټې آه ارمان دی
تمام تن مې ستاله غمه په لړزان دی
همېشه مې دغم اوښې په مخ دروسې
بې اوريځې شب و روز په ساباران دي
دا يوازې زه به ستا په غم نوليږم
که په درد کې دې شريک تمام جهان دی
د اباران د پشکال دی په ساورې
که نازل سې په صورت دنوح توپان دی
دو صال نعمت دې همېشه خوک موسې
که مدام په دې عاشق باندې هجران دی
چې په زړه کې تصور دستا بشر کړم
تمام تن مې په خندا کې گلستان دی
چې دستا وناکړدو وته زه گورم
له دې غمه مې تمام صورت لړزان دی
ستاهجران راته هرگوره مشکل کار دی
ماسواله دې بل غم راته اسان دی

یاره تهچې عاشقا ن شړې لهدره

پهر اتلو دعا شقا نو دې کوم زیاندی

ابړ نظر گوښه کنار په حبیب وکړه

(۱۲۴) چې هر گو ره بې خاطر پسې پر یشاندی (۱۰)

دازمازړگی هر گوره دېر خو ږ یږي

چې مین آشنا لهما خنې بیلیږ ي

چې یو دمې لهنظر هپناه کیږي

خدای خبر دی خهپهماباندې تیر یږي

بلبلا ن د گل پهحسن مشغو لا کا

دازما ستر گې له تاپهخه شر میږي

لبر نظر دمهرو کړه پهما باندې

دازماژو ندو ن دستا پهدیدن کیږي

دو صال او بهپرې تو یې کړه دلبره

دستااو ردی دهجر ان پهمالگیږي

هیڅ اثر پهتا دااو ښېزمانه کا

درست جهان مې پهداحال باندې گرو هیږي

تـه خبر زمـاپه حـا ل نهیې دلبره

خدای خبر دی چې پهماباندې تیر یږي

قراري په عاشقا نو د هحرامه

دخپل یا ر پهغم کې شمع د ه ژ ړ یږي

دازماطالع هر گوره دي زبو نې

چې دلبر زمـاپـه حـال هیڅ نـهگرو هیږي

نن دي و خت دی که جفا کړي که و فا کړي
دښایست بهار دي دروسي نه و در یږي
او س حبیب دی چې دیار په غم کې ژ اړي
(۱۲۵) گل جهان گو ره په غم دیار ژ ړیږي (۱)
پر یو تلی سې په زړه د غم غبار دی
چې د لبر سې له رقیبه هم کنار دی
د غمو نو په سو جو نو کې یې دو ب کړم
درست صورت سې دستی په خنجر به نار دی
خو څیدای نه شم له ځا یه تل نو لیږم
هیڅ صحت سې د زړه نه کیږي بیمار دی
داز ساد سخ خهر ه لکه زعفر ان د ه (۱)
د ستا سخ له هوسه سور لکه انا ر دی
او س راځه چې لاس په لاس د رو سو په سیل
له رقیبه پو شید ه وخت د بها ر د ی
بې تاخه کړ م د جهان ښاد یې و اړه
په داخه شو که په هر طرف سها ر دی
قر اري صبر دې د و اړه په سازو ړ کړ ل
لیو نی په صحر ا سر شو م څه ناتار دی
په قدخم په تن ضعیف شو م ستا په غم کې
اندرو ن گو گل سې سوی ناقر ار دی

---

(۱) اصل: «داز ساخهر ه لکه ز یړ ه زعفر ان ده» .

هیځ با ور يې د زړه نه شي په سا باندې

نارواشه که‌داوايي چې‌سې یاردی
زه حبیب دښو یارانو خانه‌زادیم

(۱۲٦) باري ډېرسې ترس په زړه کې داغیاردی (۱۰)

قضاراغله پوهیږم وارزمادی — داحدیث‌سې دروغ نه دی په رښتیادی
هیځ توبه راځخه‌نشته‌حق حیران یم — دمرګي چوب‌داررا غلی په بیدیادی
درحلت آوازسې‌تل په غوږو لګي — دامدام‌وایي‌چې‌دروسه‌کوچ د«ستا» دی
زه‌همرا ه‌پیدا کومه نه‌یې‌موسم — ډېر ویرېږم چې سفرسې‌یا‌تنهادی
آه‌افسوس‌دی هیځ توبه راځخه‌نشته — خپل اختیا رګو ره‌زما په‌ځا ن‌بلادی
ډېرحذ رسې‌دلحد له‌تاریکی شي — چې منکر نکیر حساب کوي‌ګویادی
ډېرعذاب یې‌دی باورکړه‌وپوهیږه — دګناه په برا بر عذ اب‌ر ښتیادی
چې‌دحشرنشرورځ وي‌نوربه‌څه کړې — چې‌ا تلس‌زره قوم په تما شادی
هم‌صراط‌ترتیغ تیره‌ترموی‌نری دی — هرعاصي به‌ترې پرېوزي‌په‌غلطادی
دوزخو نه‌یې اووه‌دي پیدا کړی — دمو من عذاب په‌قدر دجز ادی
چې‌سخي‌وي پرهیزګا رجنت یې‌ځای‌دی — دهوس‌خوراک‌به‌خوري‌تل په‌خندادی
براقو نه فواکه‌به و رله‌و رکا — لورد لوره دجنت په تما شا دی
چې دا هسې‌نعمتو نه‌دمو من‌دي — سترګې‌وخوره چې‌په کارکې‌ددنیادی
دناصح په نصیحت کله‌جار و زي — هغه‌کس چې‌په بدی کې‌ګو یادی
تو به‌ګار او سه موسنه له‌ګناهه — چې‌سر و رکا ینات دی ر هنمادی
دحضرت‌لو یه‌ل من‌مو ده‌نیو لې — په ر ښتیاسره‌ر سول‌زمو ږ پیشوادی
خدا ی‌به ورکاندی جنت‌له‌نعته — هغه کس چې امتی دمصطفا دی
زه حبیب الله‌په تمه‌د جنت‌یم — چې‌رحیم کریم معبودسې‌پاک‌مولادی

(۱۳۷) د قیاست له سختۍو رڅې په ژړادی (۲۰)

سباو رځ د لوی‌اختر ده‌په‌ماغم‌دی
چېو تلی سې‌له غیرې نه همدم دی
لور دلوره(۱)درست‌جهان دژړه‌هوس‌کا
پریو تلی په صورت زماما تم دی
نه‌مې نمري ته‌هوس‌شي نه‌خوراک ته
له‌دې دو اړو تبر ایمه قسم دی
رنګارنګ بشرې سېو لیدې په‌ستر‌ګو
ماګوما ن کړ(۲)چې هر یوز ماصنم‌دی
دغم اوښې‌سې په‌مخ باندې وریږي
داباران سې‌په‌رخسار باندې همدم دی
دازما دمرګ آوازدی چې‌کاوه‌شي
هرسحر سبانو بڼ چې دم‌په‌د م‌دی
درست جهان سې ترنظره آئینه‌شو
ګویااینبی سې‌دوړاندې جام دجم‌دی
چې‌دستاپه‌درو ازه رقیب رادرومي
ترتبره تیغه ییې‌بدهر ګو رقد م‌دی
ته‌چې راغلې په‌خندا ز ماتر غیرې
دابیمار باندې له کومه‌ستا کرم دی

(۱)په‌اصل کی«لو رراتلو» لیکل‌شوی‌دی .(۲)په‌اصل کې«حاکمان کا»لیکل شوی دی .

که تمام جهان نتر ه طلا جو هر شي
په نظر زما دستا تر خا و روکم دی
اوس ته‌و و ایه‌چې چېرې له‌تادروسم
دازسادژ و نه‌و ن حظدستا په‌دم دی
د رقیب خبرې شي او رې په غوږو
(۱۳۸) خوار حبیب درته‌بندي‌ولاړ بې دم‌دی (۱۲)
تر و خاطر به‌زما ولې پریشان نه‌وي
ستا بشر به‌زماو لې‌ار مان نه‌وي
چې‌دې مخ لکه آفتاب دی لا تیری ترې
خوار عاشق به‌پسې‌و لې‌گو یان نه‌وي
چې‌دزلفو خوشبو یې دې جهان و نغښت
تر ودماغ به‌زماو لې‌ر یحان نه‌وي (۱)
چې قا مت د ې لکه سر و ه یا الف دی
تر و صو رت به‌ز ساو لې‌لړ زان نه‌وی
چې با نه دې لکه غشي نا و کي دي
خوار عاشق به ورنه ولې دو ان نه‌وي
دسپین‌مخ تعریف‌دې کله‌څوک کاوشي
و اصفان به‌پکې‌و لې‌حیر ان نه‌وي
یاره‌ته چې‌پید اکړی یې خدای شمع
عا شقا ن به‌باندې و لې سوز ان نه‌وي

---

(۱) په‌اصل کې«زایمان نه‌وي » راغلي دي .

چې دستا قدم به نه وي په جنت کې
ترو محروم به له سو بو ولې رضوانه نه وي
چې په مخه یې خز ان بده خو اری ده
خوار بلبل به په گل ولې نالا ن نه وي
چې رقیب غو ندې بدسپی له تاسره دی
ترو په باغ چمن به ولې زاغان نه وي
چې له دره دې محروم کړل یار ان و اړه
خوار حبیب به و ایه و لې پریشان نه وي
چې مخلص حبیب الله دې حق حیر ان کړ

(۱۳۹) درست جهان به وایه و لې حیران نه وي (۱۳)

زه مجروح ستاد غمزې یم پنهان خه دی
دعاشق تر فهمه وصل هجر ان خه دی
ستا په غم کې عاشقان دی حې تل ژاړې
تربار شه یې د اوښو با ران خه دی
چې ته نه یې په دا دو ر خدای خبر دی
تر نظر مې ترو و ایه جهان خه دی
هیڅ باو ر دې د ښتینې په ما نه شي
خه به وایې ستا په زړه کې گومان خه دی
او س بې دمه په خای پروت یم پر هرژ لی
نور په زړه دې ر اته وایه ارمان خه دی
که خه دی عاشق ته و اړه ستاوصال دی
ترو بې تاباغ د حرم وبو ستان خه دی
چې لمبې مې ستاد هجرد ې لیدلي
دامدام و ایم چې او ر و نیران خه دی
چې دستاد مخ جلوه به پکې نه وي
بې له دې نعمته وا یه رضوان خه دی
هغه د م چې مې دغم اوښې بهیږي
تروسحاب مې په تندي داآسمان خه دی
زه چې ستا په غم کې شمع غوندې ژ اړم
ترنظر مې امیر وسلطا ن خه دی
چې سوبدواړه خدای پیدا کړو په جهان کې
تروهریولیلی، مجنون، آدم خان خه دی

(۱۴۰) نور تر فهمه يې په عشق کې صنعان څه دی (۱۳)

ستا ذکر په ياد داشت سې زړه ګلګون دی
نازل شوی سې په مخ رود جيحون دی

پاس په سر سې تل داو رده وزې خيري
له دې تاوه سې شليدلی درست لړمون دی

قراري راباندې زوړ شوه خوب حرام دی
چې د کوردستا دغم په سيره تون دی

دپتنګ و حال ته و ګوره چې څه کا
حال زماتر دا پهورته لا زبون دی

اوس به چېرې له تا درو سم راته وايه
چې سې بوتې ستا دعشق په زړه زرغون دی

دسپين مخ شغلې دې تېرې تر آفتاب دي
هر اندام دې بند په بند په به قانون دی

صراحي(۱) دسر ينديې په ژړا خاندي
له رقيبه ز ماکله پيو ستون دی

دار بابچې تل ګو ياپه بم و زير دی
همېشه زما دغم په شوا خون دی

ته چې وايې چې ورځه له مادې څه دي
بې له تاسې درست پتمې د زړه للون دی

---

(۱) په اصل کې «سور هې» ليکل شوی دی .

کەخە عمردی دیدن دی دیارانو

بێ لەیارە چێ تیر یږي خەژوندوندی

خدای دي زار حبیب الله کاله دلبره

(۱۴۱) چێ مدام یې دفراق پەځگر خون دی (۱۱)

داتر گل گلاب ښایسته «دلدار» دچادی

داتر زرکې نەبهتر رفتار دچادی

چێ پەتش کاتە دستر گو کاخو نونە

داتر تیغ پهو رتەبد گو زار دچادی

چی ئەویرە کالە چانە یې پرو اشی

داظا لمو ستمگر نگار دچا دی

جی بلبل شږی لەد رەزا عان بولی

دابې قدرە بې معنا گلزارد چادی

چێ جلاد و رلەد هجر هر دم درو مي

داسحر و مەلەو صالە یار دچادی

چێ همیش پەا ستقبال و رلرە دروسي

داتر دە پهو رنە ښە سینگار دچادی

چێ ئەو زې یې خورې شوې پەسلکو نو

داپەزرەزما بل شوی نارد چادی

چێ خلاصی و رځنې نەسوسي حبیبە

(۱۴۲) داسحکم و ایەدزلفو تاردچا دی (۸)

کەعاشق پەعشق کې ژاړي نالان نەدی

کەهو ښیار بەغم کې ناړي نا دان نەدی

چې بې خیال دیار په زړه کې مدام پروت وي
که یې یاد په بل دیار وي هجران نه دی
چې بې یاره به هوس کا غم یې نه وي
دا مدام په زړه کې ژاړي خندان نه دی
چې دلبر سې پکې نه وي به یې خه کړم
دا جهان و اړه ویران دی ودان نه دی
چې مدام ژندگاني بخښي وماته
دا مشکل په ده اسان دی هیڅ گران نه دی
که دو ییري په او به که په او رسوزي
خوار عاشق له و اړه تېر دی په ځان نه دی
زه حبیب چې ستا بشر په ستر گو وینم
(۱۳۳) زړه مې هیڅېږي له غمه پریشان نه دی (۷)
لکه زه مین په یار یم بل به نه وي پیدا هسې
لکه زه چې نا قرار یم بل به نه وي گویا هسې
زه له یاره سره وصل غم یې لا را باندې زور شو
زه اخته د عشق په کار یم بل به نه وي شیدا هسې
بې له یاره ژوندون څه دی چې په ما باندې تیرېږي
جوړ یتنگ د عشق په نار یم بل به نه وي رښتیا هسې
زه فقیر دستا دد ریم همېشه پکې لوغړیږم
ستا له غمه په زار زار یم بل به نه وي گدا هسې
ته چې ماشرې له دره کوم گناه راڅخه و شوه
زه بلبل ستاد گلزار یم بل به نه وي له ما هسې

زه‌دي ډوب دعشق په موج کړم څه خولاس را کړه دلبره

زه څرګند دعشق په لا ريم بل به نه وي ملا هسې

زه حبيب چي يارته ګور م دی له ما پستنه د روسي

(۱۳۴) تل يې پروت زه په دربا ريم بل به نه وي جلا هسې (۷)

ن له‌و رايه په‌خندا راته هر ګل دی

چې مجر وح سينه له‌و رايه پرې بلبل دی

دامدام و ايي چې څه لره هوس کړې

چې په تادی هومره غم کله‌د بل دی

له‌سګا نو يې دو ستې ده‌ډ ېر ه‌ډېره

داسما ن‌د ملا يکو په شر ل دی

چې يې‌و ليده جفا ستاډېر ه ډېره

خو ا رعاشق دخا نخو نينوپه‌ژ ړل دی

نو ر با نه دي و اړ ه‌غشي لاجبري دي

هر يو غشی مې‌و تلی دګو ګل دی

که هر څو يې‌ځان‌عزيز يادوست نيکخواه کړم

نارو اشه که داوا يي‌چې مې خپل دی

نو ر دلوره دتهمت په‌غشيو و يشتشم

هرآو ازيې په‌ماجو ړدقتلول دی

زه به څه‌لر ه‌ښادي دزړه کومه

چې‌دلبر مدام زما په شر مول دی

زه حبيب الله‌مدام څکه ژ ړا کړم

(۱۳۵) چې دلبر مې‌شپې ر قيب په يار نيول دی (۹)

بر عاشقان نظر نکند یار کیا بلاهي

می رفت خون ز کشته بیمار کیا بلاهی

چون کر دنظر بر تن مجروح شکسته

لر زان فتاده ایم به کو کار کیا بلاهی

هر دم به ماغر یب دو اندسو ار هجر

تر سم چون رسید شهسوار کیا بلاهی

ای دوست وصل توست گلستان به من غریب

و الله که ماسوای تو گلزار کیا بلاهی

روی سفید داري جها نست در دمند

این خال و خط و نقش به سینگار کیا بلاهی

مشک و گلاب ، عطر ززلفین توست یار

دیگر خر ید مشک ز عطار کیا بلاهی

چون میروي به سیل ز حیرت فتاده ایم

ما را ببر ، رقیب ، سگ ، اغیار کیا بلاهی

در کوی تو لذیذ فتادیم یار دوست

باغ جنان ، حور خوش انوار کیا بلاهی

آمد حبیب تو به کند از غرو ر کبر

(۱۳۶) د یگرطرف ز کوی تو رفتار کیا بلاهی (۹)

راته وایه دل سوخته چې دې حال څه دی

د پتنګ و بل چراغ ته مجال څه دی

هسې زه یم تر خپل یار پورې ناتوانه

د عاشق و معشوقې و ته قال څه دی

چې په تش نظر يې سخت کانی موم کيږي

تو ان تو توفيق و رته دجن و رجال څه دی

زه و تاو ته تر ښان تر جهان تېر يم

ماسوا تر دې تری و ايه نو رقال څه دی

که په سر دې زمانه شي درقربان شه

په خاطر دې راته و ايه نو ر خيال څه دی

د هجران خواری سې و اړه و سېلې

راته و ايه چې نعمت دوصال څه دی

هغه څوک چې توکلت علی الله شي

نور تر فهمه يې نقصان و زوال څه دی

زړه مې هسې ستا په غم سوزی سوری شو

خدای خبر دی په نسبت يې غربال څه دی

او س مدام حبيب الله دغم ژړا کا

(۱۳۷) چې عالم يې کړ غرقاب پشکال څه دی (۹)

افسوس که در عشق تو من جان و مال کمايي

هر څو که پسې فکر کوم يار مېره نه آيي

اين فرقت بعيد که حاصل شده زيار

داو ر دې د هجران دي کو ره جان مر جلايي

من چون خراب مست شدم در فراق يار

و الله چې زه يې چور کړم پير مير من منايي

اين و عده و عيد که هر روز ميکند

يو دم حرامشه يار که د بدن منور بيايي

در کوی تو عاشق بەمثل بر گ‌نەارزد

خاوري پەمخ پەسترگودعاشق‌څکەملايی

عشق تو آتش است که سوزد درون‌ما

داور دی پەما لگي تاپەڅەسبب‌لگايی

والله حبيب‌سر ده دل است‌يار جان من

(١٣٨) تاچي‌تر څنکه سپي رقيب‌مدام بهايی (٧)

دابلبل‌و لي فرياد کاپه چغاردی

چي‌له گله سره وصل هم کنار دی

دخزان پاني‌راتو يي‌شوي پەمز که

پري پەسي گوره نو بت‌دنوبهاردی

گدگهی يارانولاس نه لاس نيوني

کله‌غم‌په زړه هر يار مي‌نگو نساردی

کله‌وينم و هر لورته چي‌هيڅ نەوي

بيا پەبېرته پەساعت عجب گلزاردی

چي‌د شمعي‌عمر لږ و يني ،پري سوزی

پتنگ څکه له دي غمه ناقراردی

داآواز چي‌سرينده کا ندي تل ژاړي

پەخنداد صراحي‌پەز اوزاردی

دربابب نصيحت څکه شو ک‌چارباسي

څکه چو پەخوله، له‌څلکه‌پەتر اردی

دانو بت چي‌هر سحر مدام غږيږي

دادغم نعري و هي چي‌څه‌ناتاردی

درستەشپەمە یسشغو لاوي لەیار انو

سباو اورم چې و مرگ تەنژ دې یار دی

اوس هرگوره ناو یسا شوم له جهانه

چې دعمر یارمې درو مې په رفتاردی

چې بندي حبیب الله دمرگ په زیل شو

(۱۳۹) لەدې غمه همیشه پەزړه بیمار دی (۱۱)

چې دې سخ دی لەمابیر تەجار ایستلی

څه مطلب دې دی پەزړه کې بیانیولی

هر عاشق چې ستالەدرەو جار وزي — بیاپه بیرته ورلەراشي شرمیدلی

مخامخ گله څوک خوالره (۱) وردروسی — چې بې و ویني لەورایه قهریدلی

دلربا هەستاقسم دی که مې و ژنې — دا باقي عمر پەمادی غمبدلی

تەچې ما شړې لەدرەرقیب بولې — خدای خبر دی چې هیڅ نەیې پوهیدلی

چې لەدرەدې وبلې خواتەدرومم — دافرقت دی زەیې گله شم زغملی

کەمې پس لەمرگه راشې و لحدته — ماله قبره هغه دم گنەوتلی

روغ بەنەشي بې دیار لەدیدنه — چې دعشق پەتوره پروت وي پرهرژلی

اوس بەچېرې لەتادروم راتەوایه — چې دې رخت زمادصبر دی لوټلی

لیونی پەصحراسرشوم ستاپەمینه — عقل هوش مې لەصورتەدی وتلی

څوک همنشته دي چې پەغم کې مې شریک شی — داپەمادیار دهجر موج ختلی

دمجنون خو، لەلیلی سره مطلب وي — بې مینه به څوک څه کیاکورو گلی

---

۱) پەاصل کې «هر گلەڅوک» لیکل شوی دی .

زەمنصور غو ندې آزادیمەلەبندە ستادزلفو پەتناب‌یمە تړلی

دوصال او بەپرې تو یې کړه دلبره

(۱۴۰) خوار حبیب دی دهجران‌لمبووهلی (۱۴)

ای یار من بەهجر تو هر دم بیمار هی

آری بەوصل‌قدت یکدم قرار هی

توصیکنی نصیحت هر دم بەعاشقان

مجروح دل شکسته و دایم نهار هی

مرااسیدنیست کەبی‌تو کنم هوس

عاشق‌شدم‌بەروی تو هر دم کوکار هی

هر جاکەروم خال‌خطت‌دردل‌من‌است

گرغایبم والله کەهر دم دیدارهی

آبم زچشم رفت‌گواهی بەزارداد

ساغر بنوش‌لذت مرگ تیار هی

وقت بهار عیش طرب هست جاویدان

محروم بی‌دلیم عجب‌نو بهار هی

ای دوست بر غریب حبیب‌نظر کنید

(۱۴۱) درکوی‌توافتادەومجروح‌خوارهی (۷)

پەنامە دهغەخدای مې‌دابیان‌دی چې‌پەکن یې‌پیداکړې‌دوست‌جهان‌دی

خو یې‌زمکە دەپراخە پیداکړی ودرولی‌یې بې‌ستنو لوی آسمان دی

خویې غرونەدې‌پەزمکەودرولې هرسړی‌ورتەلەورایە حق حیران دی

کورەاو بن‌یې‌پەخەشان‌دی‌پیداکړی کاریگر یې‌همەوارەپاک سبحان دی

هم‌آدم یې‌دی‌لە خاوونە روغ کړی پوست‌وگوشت‌وهډیې‌کورەپەخەشان‌دی

بیا یې غوږ وستر گې خوله پکې پیدا کړل — لاس و پښې دې په تالو کې یې زبان دی

نعمتونه یې د اواړه ورله ورکړل — بیا سبا بیگاه مدام روزي رسان دی

په ثناصفت یې کله څوک رسیږي — چې و تلې له حسا به له بیان دی

زه هغه گڼم سړی په دا دنیا کې — چې په شکر او نعمت یې ثناخوان دی

که څه کاردی خود دین دی چې کاوه شي — دا جهن واړه نابود پاتې ویران دی

چې اتلس ززه قومه به ولاړوي — هرسړی گوره په غم کې دخپل ځان دی

که نبیا ن، پیغمبران، که اولیادي — دهرچا زړه له عذابه په لړزان دی

بې رسوله چې به تل امتې وایي — دی شریک په غم دهرچا بې گومان دی

هر مومن به له عذابه ځینی خلاص کا — چې پیشوا مو محمد آخر زمان دی

په یقین دزړه بې شک موږه منلی — خدای دې خوار که هغه کس چې بې گومان دی

حبیب له ستر گو او ښې و ینې دروي — په فراق له مرگه خپله په نالان دی

(۱۴۲) خوار حبیب گوره چې ځان ژاړي له غمه (۱۷)

ترسنده له عذابو نو د نیران دی

په سینگار دې ښکلی مخ تر آفتاب تېر دی

څکه نور ښایست مې گل لاله هېر دی

دالاله کله لاله دی چې لبده شي

داغ دو ینو دعاشق دزړه برسېر دی

سرینده گیلې نیولې ده تل ژاړي

هم رباب ورته گویا په زوروزیر دی

داسپوږمۍ چې مدام مخ په حجاب نغاړي

عکس ستادښکلي مخ ځنې چاپېر دی

پەوفاو پە جفا يێلار غەنەشي

داگردش دزمانێ اوس پەبل پێر دی

سر دعقل ستاغمز و ز ماپارە کرە

خکە کل جهان و ماو نە اندهێر دی

خەبەلاف حبیب‌الله دشاعری کا

(١٤٣) چێ رحمان‌غوندێ شاعرپەدنیاتێردی (٧)

نظري کل‌صور تو نە ميلمانەدي

عارفان خکە محرم لەژوندانە دي

دتقوا کند ويستلی دو اڕەپەسر کڕە

دميزان پەوخت کێ ددا پيتی رانەدي

تەنغمەدر باب‌خەاو رێ پەغوڕو (١)

فڕيادونە لور پەاو ر ديلتانە دي

هرچێ نەکاپير وي ددوستدارانو

عاقبت بنديان داو ڕپەزولانە دي

ثوک‌چێ تلل پەسڼردگو ڕپەلوري

وايە ثوک لەدێ سڼرە بياستانە دي

دوزخ لەعذابونو پەژڕادي

عارفان خکە پراتە پەزنگانەدي

اوس مدام حبيب‌الله دغم ژڕا کا

(١٤٤) چێ ياران و رخنێ دروسي پەمانەدي (٧)

---

(٢) پەاصل کێ «پەصوت» ليکل شوي دي .

نن زمازړگي(۱) پریشان دی — چې یې غم ستاد هجران دی
اوس موسم دبهار تېر شو — آخر دورد خزان دی
زه یوازې ستاعاشق یم — که غمخوردې درست جهان دی
ستا په مهر محبت کې — هر سړی گوره نالان دی
دوصال زیری پرې وکړه — دمې خیږي ترزمان دی
خوارعاشق لکه بلبل دی — ستاپه وصل کې گویان دی
شگفته دباغ گلونه — هریوگل ورته خندان دی
ستاترقد پورې شرمیږي — بید مجنون ځکه لړزان دی
سروه پر بوته په زمکه — صنوبر هم په ارمان دی
دراتلو زیری پرې وشو — نرگس ځکه درست چشمان دی
بې صبرې پرې باندې زورشوه — دا پتنگ ځکه سوزان دی
په عاشقه درخانی ده — بیا داهسې آدم خان دی
غربې دوه نیمه پاره کړ — محبت تی هسې شان دی
چې لیلامجنون ته باش وې — دی و لاړ په وچ داماندی
زلیخا ؤخوب لیدلی — چې دلبرمې دکنعان دی
داعاشقه شوه په خوب — درست صورت یې په لړزان دی
محبت د عشق بلادی — خوار صورت دشیخ صنعان دی
مین شوی په ترساؤ — په ویې دده چالان دی
دی په عشق کې کورو کړ شو — تېر ترسر و ترساانو دی
په هر لوري یې شي ستاینه — هر سړی یې په ارمان دی

---

(۱) په اصل کې «کماز ړگی» لیکل شوی دی .

دوی مین په آدم زاد وو — گوره تل «بې «ښه بیان دی
تاله بو یه چې خدای بولې — دی هرگوره مهربان دی
که په خدای باندې عاشق شې — نو ردې ځای جنت رضوان دی
خدای به‌در کا بر اقونه — چې نعمت یې په الوان دی
اې بنده ناقصه عقله — په تافضل د سبحان دی
که رښتیا په‌خدای مین‌شې — ستا عاشق تمام جهان دی
خوار حبیب دی چې ژړا کا — کل عالم و رته حیران دی

مغرورمه اوسه « حبیبه »

(۱۳۷) فانې‌دور ترزمان دی (۲۸)

چې را وړی یې‌دیار د لور پیغام دی

و هغه بادسبانه مې سلام دی

بس کړي بس‌په‌یوه دم نظر د مینې

که هزار ځله گو یا په‌دېردشنام دی

که‌دې مخ گورم سبازلفې‌دې شام دي

جمع شوی په یو ځای کې صبح و شام دی

که‌یې جور که‌جفا که‌یې ښکنځل دي

عاشقانو ته دیارو اړه اکرام دی

که عاشق د رومي دعقل په‌نمانځنه

په‌مذهب دعشق کې کار دعقل خام دی

کله کله دوصال او به‌پرې توی کا — دهجران په‌اور یې‌سوی هر الدام دی

کله کا حبیبه نور خبرې د اسې

(۱۳۸) که‌ځه‌ذکر دې یافکر دغلام دی (۷)

د عاشق و یره ستاله گو زارشي

دمار خوړلي و یره له مارشي

که دې باور شي اوس همې زه یم

چې مې هر گوره و یره بسیارشي

د ستا په درکې په تمه پروت یم

آرزو مې د یره ستاله د یدارشي

دستا دهجر په لمبو سوی بد یم

تل سمندر دی زیست یې له نارشي

بلبله ژاړي سینه یې سوزي   پروایې کله د گل له خارشي

دستا په عشق کې دیارستي شول

ژوندون مې کله بې خپله یارشي

اوس مې د مینې جلب نیولی

و یره مې کله د عشق له دارشي

و لې به نه ژارم دیارله درده

دزړه مې ستاله «درده» چغارشي

و روستی دیدن دی ژوندون مې لړ دی

دحبیب عمر ستاله گفتارشي

حبیب بې دمه درته ولاړ دی

(۱۰)   په زړه یې و یره ستاله پرهارشي   (۱۴۹)

همه دم چې په ناز ناز راته نژدې شوې

په تندې زماخوري خاو ري اوري شوې

چې یو دم مې دو صال خواږه په خوله کړل

په دالي عمر دیدن سترګې مړې شوې (۱)

د هجران په بیمارۍ دې زه مهجور کړم

همیشه مې په تندې باندې نعرې شوې

داهم زه یم چې تر مې دی نیولی

ستا له غمه مې په سر تیرې خورې شوې

او س زما ژوندون باقي دی که یې خدای کا!

چې په زړه سره وماو ته نیږدې شوې

چې یو دم راشخه بیرته شوې باور کړه

نور مې څرخ پاس په زړه باندې چړې شوې

داستا غم دی چې مدام ژړا فریاد کړم

له دې غمه مې په مخ باندې ولې شوې

او س یو هیږم چې مې مرګ راغی نژدې شو

چې دې سترګې دواړه ماو ته کږې شوې

لر لر غم حبیب الله کله کاوه شي

(۱۵۰) په ژړا دواړه یې سترګې په خون سرې شوې (۹)

زما په زړه کې دیار غمونه دي

په مخ داوښو مې سیلابونه دي

قراري زوړ کا په ماقسم دې

تو به له عشقه بدیې کارونه دي

---

(۱) اصل: «په دالي عمر مې دیدن ستاسترګې مړې شوې».

مدام له غم کړم دا فریادونه　　چې د رقیبانو راته پوځونه دي

اوس حق حیران او ښې مې ښاخي　　چې مې په تن کې لادازیمونه دي

ستا د هجران په دریاب کې ډوب شوم　　چې مې داو ښو روان سیندونه دي

مینه راشه چې دم مې خیږي　　پاس په تندي مې د عشق اورونه دي

حبیبه یاره ژړا په څه کوې

(۱۵۱)　　یار به دې خپل شي د خدای کارونه دي　　(۷)

متفرقات

رباعی

تر گل خوشبو یه د ستا جمال دی

له ځمکې پورته په تیښت هلال دی

نظر د مینې په خوار حبیب کړه

چې خدای در کړی حسن کمال دی

* * *

زړه مې په مینه دیار غمجن دی

قسم دی یاره هر گور در دمن دی

زه یې له غمه په ژړا چور کړم

رابانده یې اور تمامي وطن دی

* * *

دیار غمونو په زړه زهیر کړم

چې یې د زلفو په تار اسیر کړم

زه یې غلام یم دی «مې» صاحب دی

(۱۵۲)　　په سر و مال زه کله تقصیر کړم　　(٦)

مخمس

من میکنم ز بهر توگریه و ناله را میریختیم اشک چودر ها و ژاله را
غم میخورم در دل تو چون نواله را ایداغ بر دل از غم خال تو لاله را
شرمنده ساخت آهوی چشمت غزاله را

جانم یقین که در غم تو هست در دمن افتاد لرزه بین تو براعضای مرد و زن
بر کشتگان کنید نظر رحم بان من از انفعال لعل لبت لاله در چمن
دیگر بدست خویش نگیرد پیاله را

می گریم و می نالم و در هجر توز ار زار آشفته و خراب نشستم ناقرار
فریاد که جانم رود به آرزوی یار آگاه نگشت شاهد گل گرچه صد هزار
بلبل زروی درد کشیده آه و ناله را

هر عاشقت زهر ز عشقت چو انگبین درد دور تو بیدل شد هر عاشق خود بین
یکسر شده زجرست آن نکته عشق چین آمد بیرون بگر در خت خطه برین
کس گر رمه ندید بدین گونه هاله را

آه کیست که از عشق محبت ندید جامت ملک زعشق بصد آرزو خرید
جور و ستم هزار زخار رخش کشید او صلف گل ز بلبل بیدل توان شنید
چون مثل او نخواند کسی این رساله را

از چشم قتال تو کسی گوشه نیافت از می لبت [illegible]
دایم فتاده در کوی تو دانه نیافت اسان زخوان وصل تو کسی بهره نیافت
مشکل توان گرفت بدست این نواله را

ترسیم زجور و ستم و درد ل از غماز   هر دم کنم به‌عشق تو صد بار جان گداز
عشقم حقیقت ز رخسارنی مجاز   آزرده کی کند دل محمود را ایاز
نیکو کند مطالع اگر این قباله را
خاکی ز کوی توست چو کحل و گلاب و مشک
بین عاشقان بسوی تو استاده پا و خشک
میرفت ز چشمان چو ابر بهار اشک   با ما نکند یا رو فا خوبی و سرشک
(۱۵۳)   حان حبیب رفت به‌لحظه چوژ اله را (۱۶)

مخمس

چون رخ زیبای تو شد در حجاب   رفت زچشم به‌فراقت خوناب
میزنم و دست بسر چون ذباب   برفگن از ماه‌رخ خود نقاب
تانکند دعوی حسن آفتاب
نیست ز تیر زده مژگان طبیب   مست بکوی تو فتاده است غریب
میکند هر دم به‌غمت جان معیب   بادهٔ گلگون چو کشی بار قیب
چند کنی جان و دلم را کباب
آه زعشقت بدلم شد اثر   بدر خت بذر زچشم بصر
بادنور زد به‌قدت بحر و بر   بهر قدم بوسی تو آمد بسر
نعره زنان آب به‌صد اضطراب
بین که چه شور است بهر انجمن   بلبل جان بر دست د رچمن
زلف تو در گردن باشد کمن   بی تو چنانست که در چشم من
جان نکند در شب هجر تو خواب
بدر هلال بر فتد بر نشد   رفت ز چشم آب دلم تر نشد
عقل سحر دو شفن بو فر نشد   با قد تو سرو برا بر نشد
پیش رخت شد ز خجالت گلاب

هر نفسی سر به غمت می زند　　عاشق بیدل بگوید تا ابد
هر نفس سرد به آه می برد　　بزم تو یاد آورد میکند
ناله چو نی هر نفس از غم رباب

بود هزاران ز عشاق تو مرد　　تیر ز مژگان بغم خم بخورد
رتبهٔ عشقت به حبیب سپرد　　باز ایا ز از دل محمود برد
(۱۵۴)　　صبر و قرار و خورد و خواب　　(۱۸)

***

سوز عشقت ز غم درون من است
بوی زلفت چو نافه ختن است
زان به عاشق چو طوق یا کمن است
تاب روی تو شمع انجمن است
(۱۵۵)　　گل روی تو زینت چمن است　　(۲)

مخمس

داخو شحاله خنده ر و یه یار دچادی — سهو شه رندانه دلدار دچادی

خو ش تقر یره خوش دهن گفتار دچادی — گل تري پټ دی په ورق ر خسار دچادی

چي شوه ز رکه په هی هی ر فتار دچادی

په صفت دیار لاله زوړ ند بی هوشادی — سوسن څه چي جهان کل ورته په جوش دی

نرگس سوسارږه (۱) چشمان ولاړ خاموش دی — دیارسترگو ته دتیغ دغه څه پوش دی

دابي دریغه لادو اگوز ار دچادی

دعاشق فر یاد مدام وي په هجر انه — بي پر وادي سهر و یان تل له هرچانه

مانه کله کاعاشق له دلستانه — خبر ز د ه کړ دیار و ر و څو له گمانه

چي دی خون و ر ته مباح نگارد چادی

د اشناو قدته عقل نه رسیږي — دسرو سترگو یي جهان واړه شر سیږي

لمر سپو ږ مې یي له رخسار ه نه پټیږي — عاشقان پر ي پرو انه غو ندي و ر یتیږي

چي بلبل پري کاچغار گلز ار دچادی

د تقدیر شوي ته عقل چه کاره دی — نیک سر شت دبد په بد و آو اره دی

دمر دی (۳) علامت هر چیري ښکاره دی — دعاشق خون دی نه په شماره دی (۳)

چي مدام کاگو زارو نه یارد چادی

په نیک زارو باندي هرچیري اختروي — د عاشق کله په بد د یا ر نظر وي

دیار و صل همیشه په بخت و ز روي — په عاشق باندي دیار مدام حذر وي

چي یي دم دی دعیسی گفتار دچادی

---

(۱) په اصل کي «سرږه» لیکل شوی دی .(۲) په اصل کي «دهردی» غو ندي لیکل شوی دی .(۳) داصل له مخي کا یي شو .

چې و خو اته یې لاوس څه خو قریب شو ښه چې یار د کشتگانو خپل طبیب شو
درست جهان یې په دیدن پسې غریب شو په هوس یې د وصال تورن (۱) حبیب شو

دا د زلفو سنبل طور تار د چا دی

(۸) (۱۰۶)

* * * * * * * * * * * * * * * * * *

(۱) په اصل کی طورم لیکل شوی دی .

بسم الله الرحمن الرحیم

الف نامه

الف نوم دی ثابت شوی د سبحان — دی صانع د مخلوقات دی په څه شان

پیدا کړې یې ده ځمکه خو پراخه — و د رولی یې بې ستنو دی اسمان

جنتونه دوزخونه یې پیدا کړل — هر گور سخت دي عذابونه د نیران

مومنان به د جنت په سینه مست وي — فواکه به یې خوراک وي د رضوان

د کافرو ځای دوزخ دی له عذابه — قوت یې وینې د ځیگر وي د خپل ځان

گوره څرنگه نگاه ترخپل دوستان کړي — چې نازل یې کړ په قوم د نوح توپان

درست جهان یې مسخر کړ خدای عالم دی — گوره څه شان نگین ؤ د سلیمان

کافران یې اکثر قتل په پشه کړل — چې دعوه یې د خدایي کړه جاودان

په خلیل یې گوره سره لمبه سړه کړه — دی هر گور په ابراهیم ؤ مهربان

په ساعت کې یې درست قوم د لوط تاراج کړ — هسې رنگ یې دي کارونه په شان شان

دی له رنگه زیروي گیاه، گلونه — هم پیدا کا له نطفه ځنې انسان

ده روغ کړی دی آدم له خاورو پاکو — بیا په خپل قدرت یې دی روزي رسان

هر انسان یې پیدا کړی له آدم دی — د راحت د زحمت کار یې کړ روښان

چا دی کفر اختیار کړی له غروره — څوک تقوا کا، تواضع، شول مسلمان

زه حبیب یې د جنت په تمه گرځم

(۱۵۷) لور په لور یې په زار زار گرځم نالان (۱۵)

ب: باور کړه چې الله واحد موجود دی — ځکه درست جهان وده ته په سجود دی

دی به تل ترتله وینه بې زواله — ما سواله ده عالم واړه نابود دی

په دا شپږ جهته تل د ده ښناشي — که پوهیږې څوک، همدا یې ښه معبود دی

هغه څوک چې ماموران دي سه مقبول دي | چې بې امر مشوا بليس لعين مردود دی
هرچې ترس لري په زړه کې عبادت کا | د ناصح خبرې او رې په شنود دي
داو لياقت رتبه ډېره ده باور کړه | چې مدام مشغول په ذکر په سجود دی
دي غفور دی گنهکار بخښي په مينه | سه رحمت يې گوره بحر نامعدود دی
دغفلت له خوبه پاڅه په زاري شه | سزاوار دعذابو نو خواب الود دی
هر چې بخل کا مسلم آزار وينه | هغه کس حساب په تول کې د نمرود دی
هم بې نمازه سخت چې شراب خوروي | نه په خدای هسې باور کړه چې جهود دی
زه حبيب يم تو به گار دخدای په درکې | نارو اشه که په زړه مې بل مقصود دی

زه حبيب الله عاجز بنده دده يم

(۱۵۸) بې له خدايه درست جهان و اړه نابود دی (۱۳)

ت: تو به کړه تو به گار او سه له گناه شه
په دوستانو کې حساب دپاک مولا شه
داپه زړه کړه چې خدای يودی بې شريکه
چې څوک نه کوي باور ترې تبرا شه
هم حضرت يې راستولی دی په حقه
که څوک نه لري يقين ورنه جدا شه
بیاچار يار دي خلور تنه قباوه يې
ددوزخ له عذابونو نه پناشه
نو سرشيطان دي دښمنان دې فهم وکړه
نه ترې بير ته بير ته گرځه ناويساشه
موافق ځه له آيته له خداشه
که منهي کار ونه وې ترې پسې شاشه

دلحد د تاریکۍ عذاب په زړه کړه

نو رو ر د روسه که سیره یې په ژړا شه

که مطلب و مدعادې خدای رسول وي

له مفسده خلکه و وځه په صحرا شه

که حاصل دې شي مطلب له دغه پسه

بې پروا اوسه په زړه تل په خنداشه

لاړل لاړل به سین یاران دې لاړل

د هر چا پرې پسې کوچ دی په غوغاشه

اوس دې وار راغی پو هیږم چې نږ دې شو

ته غافل ولې یې پروت په واویلاشه

خدای دې وژغوري حبیب له عذابونو

(۱۵۹) پاخه پورته شه په ذکر په تقوا شه (۱۲)

ت ثواب دی له خودي چې توبه ګار شه

خاص بنده د هغه پاک پرور دګارشه

هغه کس چې نه ویریږي له عذابه

ګوره مه و رنژ دې کیږه تري ویزارشه (۱)

دی رازق دی رزق و هر چاور کوینه

پرې یقین کړه نو رو رځه ګوښه کنارشه

رجوعات په د عالم و تا ته کیږي

خو ته څه خو حرص مه کوه قرارشه

---

(۱) اصل: «ګوره مه و رنژ دې کیږه و رته و یزارشه».

ملاکېږه تېينگه يو م صائيم ليل مصلي‌شه

په‌اخلاص سره قايمه د دې کارشه

مشغو لاکوه مدام دخدای په‌ذکر

که‌پو هېږې همېشه په‌دا اسرارشه(۱)

هر چې‌خدای دي راستولي وا ړه حق دي

له‌رسله، له‌کتبه څني زارشه

در و مه‌زار تر ملايکوشه حبيبه

(۱٦۰) چې‌څه‌نور دي خدای‌و يلي پرې اقرارشه(۸)

ج: جهان و اړه قايل په‌داو ينادی

چې‌خدای کاخدايي پخپله يک تنهادی

نه‌زامن لرې لو نې نه‌او رته

هم سو اله اب وبن له‌ندسادی

سيال يې‌نشته‌دې‌باو رکړه په‌ملکو نو

هغه څو ک چې‌يقين نه کاله‌تر سادی

که‌طاعت يې‌په‌اخلاص کامهر بان دی

که‌منهي کار و نه کاترې تبرا دی

د هنيکی ، بدي دي دو اړه راستولي

په عمل سره و رکړ وني دجزادی

د کافر و څای‌دو زخ دی ترابده

هم مومن پکې په‌قدر دگنا دی

---

(۲) په‌اصل کې د«اسرار»پر ځای «اطرار» ليکل شوی دی .

فضل ډېر لري بې‌شکه چې رحیم دی

خو ته غاړه کړه ادا ستا په تقوا دی

گنهکار حبیب ا شدی څه‌به‌وا یي

(۱۶۱) منتظر مدام په فضل دمولادی (۸)

ح: حیالري حلیم پروردگار دی

که‌گناه کوي‌مومن دی «یې» غفار دی

و لې‌بویه هرمومن لره چې‌ښه‌کا

و یره وکړي له عذابه یې قهار دی

ده قرآن‌دی راستولی چې منې‌یې

ته‌ترې ییر ته‌ییر ته گرزې عجب‌کار دی

گوره لاړل له‌جهانه سبن وا ړه

پس له‌دې به‌ځنې دروموزموړوا ردی

په‌ډېر حرص دې خزانې کړې ډېرې جمع

چې‌خراب وي سرودې هغه دې باردی

پرده پوش دی که نیکي کړې که‌بدي کړې

چې‌عیبو نه پټوي نوم یې‌ستار دی

نتیجه به‌یې معلو مه هغه وخت شي

چې‌حساب به‌ځنې غوښت شي‌چې‌تار تار دی

دحبیب‌بې تا نه بله هیله نشته

(۱۶۲) همېشه ستاد کرم په‌ا نتظار دی (۸)

خ: خو یو نه‌خله کړې له‌عقله خامه

خبر نه‌یې‌دحضرت له ښه‌پیغامه

تاله بو يه چې تو بهٔ دآخرت کړې

زر بهٔدروسې باور وکړه له دې گر امه (۱)

دډېر عمر نعمتو نهٔ بهٔخداى د رکا

که خوښي کړې د جهان په ځان حرامه

درو مهٔدرو مه کناره له خلکه گر ځه

دا جهان دى همه واړه بې آر امه

تل هوس کاخام وگړي چې اختر شي

خبر نهٔدي چې سو(۲) عمر شو تمامه

څهٔسړي ! پهٔدې څهٔسينه څه هبهٔده

خبر نهٔيې دمعبو دله ښه انعامه

کهٔ راضي شي خداى رسول لهٔتاباور کړه

چې بهٔناست يې پهٔ رضوان کې خوش خرامه

نعمتو نه بې زحمته کلهٔشته دي

خلهٔ پروت يې بې پروا ترصبح وشامه

تو بهٔ گار حبيب الله دى له دې ميو

(۱۶۳) کهٔرو زي يې شي جنت لهٔ گل اندامه (۹)

د: دايم گناه کوې پرې نه پو هيږې | د چار پايو پهٔ څېر پوچ عبث و ييږې

لهٔمخلو قهٔ دې مدام دې ستر گې کوزې | له خالقه نه حيا کړې نه شرميږې

عمر لاړ درځخه ولې بې پروايې | تهٔ همښهٔ ترمانهٔ زيات پهٔدا پو هيږې

---

(۱) پهٔ اصل کې «گر امه» ليکل شوى دى .

(۲) پهٔ اصل کې «ام» راغلى دى .

څه خو داو ړه سکرو ته څه تو ده ده   ددو زخ غذاب دی ډېر ترې نه و یرېږې
ورشه و گو ره آیات په دا ناطق دی   له آیته له حدیثه نه گرو هیږې
ته چې نه کوې باو ر په آیتو نو   ترو زما په ویل کله ته شر میږې
گوره یو خوابل خوا تل د مرگ ناري دي   تا به را کاږي پخوا چې پی خبر یږې (۱)
لاړل لاړل مور و پلار یا ر ان واړه   پس له دو یه زر به ته هم راو نیږې
داچې و ایم هم واړه ځانته و ایم   یاره ته په داو یل څه زهیر یږې

داهمه کورو کوډی گو ره پردي دي

(۱٦٤)   ای حبیبه و ایه څه په دا ناز یږې   (۱۰)

ذ: ذا کراو سه مدام ذکر د خدای کړه   نور خو بو نه تل په سیوري د همای کړه
حج، ذکات، نمونځ، روژه، کلمه وایه   دا پنځه خیزو نه واړه په خپل ځای کړه
که گناه دې وي له لاسه و اقع شوې   له اخلاصه توبه گار شه په ځای های کړ

که دې دا کار و نه و کړل همه و اړه

(۱٦٥)   نور هو س کوه مدام په نور و وای کړه   (۴)

---

(۱) اصل: «تابه را کا کیږي پخو جه پرې خبر یږې».

بسم الله الرحمن الرحیم ط

دولس خبری

نقل د کتاب دی مایې کړی دی بیان   جوړ گو یاو اجب دی چې په یادیې کا افغان

یارؤ د رسول چې نوم دده کعب الاخبارؤ

ده دي داو یلي که پو هیږي مومنان

ماو کوت توریت دوولس خبره سې حاصل کړل

واړه معرفت یې ډېر بیلتون دی چې جداشی یو زمان

زه یې همېشه لرم کمند غوندې په غاړه

سخت یې ډېر بیلتونی دی چې جداشی یو زمان

دا سې وظیفه ده هم په ورځې هم په شپه کې

زړه پرې غافل و یش کړم بېلوم د زړه ارمان

د او ینا ړوسبی ده واوره اې دآدم زویه

و بر ه له چامه کړه زه پادشاه یم جاو دان

تل سې پادشاهي ده چې به اوسي برقراره

هم به شرمنده وي سیالی گوی زما حیران

زه که دې رفیق یم یو و یښته به دې غوخ نه کا

کل عالم که ستاشي لور دلوره د ښمنان

یا که په تا کیږي تل د تورو گوزارونه

و وري گوزا رونه پشکال غوندې باران

داو ینادو یمه ده چې اې دآدم زویه

ته په سرگ د مال مه زهیر یږه په هیڅ آن

و او ره‌خز اني زماباقي دي تر ابده

ۀ کې همېشه دي نه کمیږي په هیڅ شان

داداو و زمکو اسمانو نو عالم و اړه

زه که سلیمان‌غو ندی کړ م‌و اړه پاد شاهان

نه‌به یوذره‌غو ندې شی کم‌شي که‌باو ر کړې

نه‌به له‌در یابه شي‌قطر ه یو ه نقصان

داو ینا در یمه ده‌چې اې دآد م زو یه

ماله‌نیست‌هست کړ ل و اړه دازمکه اسمان

زه پرې‌عاجز نه‌شو م یو ذره په‌داخبرې

ستاپه خبر به و لې عاجز یږ م تر زمان

تاته‌به‌قسمت دا ز ل شوی و رسیږي

و باسه له‌ز ړه دحر ص و اړه بدگو مان

اي دآم‌زو یه خلورمه وینا داده

څه‌بند گی و کاند ه‌تانه غواړم‌د ځان

نه‌دگاندهر ز ق‌له‌سانه غواړې‌په ز اري

ولې‌له‌ز ړه‌نه‌باسې‌دغه‌پوچوگومان

زه‌په‌ر ازق‌ی باري تانه‌یم پیژندندلی

څکه‌یې‌بې‌صبره‌له دنیاځې‌په‌ار سان

داویناپنځمه ده چې‌اې‌د آدم‌زویه

زه ستاسوعاشق یم‌تاسوهم‌شیءعاشقان

زه په‌تاسین یم‌ته زما په‌طلب اوسه
ولې له‌ماتښتیء زمانه ئيء طالبان
هم‌چاچې زماطلب و نه کړله‌اخلاصه
تل یې‌شوه‌خواري په بخره‌هم دي دښمنان

داویناشپږمه‌ده چې‌اې‌دآدم‌زو یه مه کړه مل‌گیري‌له‌هیچاواو ره له‌بل ښان
تل ده‌ملګري زماله‌تاچې‌بې‌له‌مانه هیڅ ښه‌به‌دې‌و نه‌شي په‌حور و په انسان
داویناا و مه‌ده چې‌اې‌دآدم‌زو یه ته مه شه بې غمه غره هېڅېرې ناد ان
څونه یی‌تېرشوی‌له‌صراطه‌غره مه‌شه او سه په زاري ترد غه ځایه په امان
ادویناا تمه‌ده چې اې دآدم زو یه ستاسور زق‌دی‌قرض په‌ما زه‌یم ر وزی رسان
شناخت‌زما په‌تاسوباندې‌فرض‌دی‌ترابده تا سو که سی‌نه پیژنیء نه ئيء ثناخوان
قهربه‌هاله درځنې‌و کاږم باورکړه هلته چې اتلس زره قامه وي پریشان
داوینانهمه ده چې‌اې دآدم زو یه ولې‌نه‌پوهېږې په‌خپل‌سودو په‌خپل‌ز یان
ته‌دنوس دپاره«یې»و ماته قهریدلی هیڅ قهردې‌نه‌شي‌دخپل‌نوس‌په کاروان(۱)
نوس‌وشیطان‌دواړه‌غلیمان‌ستادطاعت‌دی ښه په‌داخوښېږي‌چې‌وي زیان‌ستادایمان
د اوینالسمه ده چی اې د آدم زویه هر څیز سې پیدا کړ ستاد پاره په‌جهان
یو ته سې پیدا کړې یقیناً‌دشناخت دپاره ته‌له‌گناهو نو ځنې پاک لره خپل ځان
هم‌قدر د ځان و پیژ نه‌اصل ستاخه‌دی ماګوره څه‌څیز کړې و پو هیږه په سامان
داده یا ز د همه و ینا اې دآدم زو یه کا د ځان د پاره آشنایي کل آشنایان
زه چې‌آشنایی کړم ستادپاره کړم د لبره ته و لی بې عقله یې له مانه گر یز ان
څه‌سې‌دې‌نیمګري‌چې‌بې‌تا،نه‌پوره کیږي محض زه په تایم ستا د پاره مهر بان

---

(۱) په‌اصل کی« په کارو نه»لیکل‌شوی دی .

داده د ولسمه وینا اې د آدم زویه ته که دازل په قسمت راضي شې په چشمان (۱)
خلاص به شې له هره غمه هرخو که په غم یې وګوره چې خرنګ دی ګویاو اړه قرآن
زه به راحتګی و ستاسورت ته رسوم (۲) ته چې نه خوار بیرې آسوده یې جاو یدان
او که ته راضی هم دازل په قسمت نه شې
زه رب د دنیا حرص به ستا کړم د خزان
خلاص به نه شې لور په لور به پسې زغلې
هسې لکه زغلي په تو کړه پسې سګان
یالکه هوسی چې په تو پونوسره زغلي
پا تو آخری شي له تو پونو په بیابان
بیامې دې په ذات ذوالجلال باندې سوګندوي
کله به یې در کړم له نصیبه زیات الوان
دادی مګر داچې د ازل شوي قسمت به
تا و ته رسیږي که هرڅوکوې ارمان
اې حبیب الله ته اوس عاشق د پاک الله شه
(۱۶۶) هسې لکه وه زلیخا خواره یا صنعان (۳۷)

* * *

د کتاب په پای کې لیکل شوي دي چې :

تمت تمام شد نسخه دیوان حبیب بحسب فرمایش و ارسال حضرت صاحب‌زادهٔ چمکنی میا محمدی جیو سلمه الله تعالی چهارد هم جلوس میمنت مانوس احمدشاه پادشاه درانی بتاریخ بیست و ششم ماه صفر سنه ۱۱۷۵ از دست فقیر ګل محمد پینهاوری باتمام رسید .

---

(۱) داصل له نسخې کت مټ کاپي سو . (۲) داصل له نسخې کت مټ کاپي شو .

دغزلونو په ترتیب خاص نوسونه

نوم	غزل
ابدل	۸۶
اټکۍ	۱۰۳
احمد شاه	۱۲،۷۱ ۱۲۴ ۱۳۱،
آدم	٦٨
ارباب	۱۸
اورنګ	۳۲،۴٦،۷۵
اياز	۷،۱۲۱
ب: باباولی	۹۳،۱۰۸
بهرام	۸٦
پ: پښتون	۹۹
ت: تورن	۱۲۱
ج جام دجم	
ح: حاجی دریا خان بابا	۷۵
خ: ختک	۳۰۱
خليل	۱۸،۳٥
خوشال	۷۸
خیبر (دمد يني)	٥٦،۸٦،۱۰۳

نوم	غزل
خ : خمکني	٧
د : درخو	١٢۴، ١۴٨
دار منګو	٨۴
ر: رانجا	١٢
رحمان بابا	٧١، ٧٣، ١٢١، ۴٦
ش: شاه ولی	٨٦
شهزاده ميرزا	٨٦
ص: ضيء الدين	١١١٠
ع: عجب خان	٨٦
عظمت خان	٨٦
ق: قرطاس	٩٣
ک: کابل	١٢، ٨۴، ٨٦، ١٠٧
کشمير	۴١
کندهار	٨٦، ٣٧
کی قباد	٣٣
ل: لاهور	٨٩
ليلا	١٢، ١۴، ١٢۴، ١٣١، ١۴١، ١۴٨
م: ستره	٧۴
محمود (غزنوي:)	٥٦، ١٠٥
مغول	٣٥، ١٠٣
مومند	٧٥

نوم	غزل
میا صاحب	۷
میان صاحب خمکنی	۷۴
ن: نورمحمد	۷۴
ه: هند	
هیر	۱۲
ی: یونس	۱۷

و یی پا نگه «قاموسی برخه»

لغت	غزل	معنی
الف : ابدل	۷۸	یوشی پر بل شي ورکول یا ایښوول یوتوری دبل توری پرځای ایښوول‌شوی.
اخوږ	۷۸	
ارهنده	۸۴	بیدانجیر
انعم	۹	نعمتونه
انعام	۱۵	څاروي ، څلور بولی ،دنعمتونو جمع .
ب :بدرهلیل	۲۹	بدر هلال
بدسګال	۵۷	بدذاته،دښمن،بدخواه
ت :تبرا	۷	بیزاریدل ، تېراکیدل
تومنی	۲۰	ګرمي شودی ،دشخاربوتی ،دیوې طایفی نوم ، دکرنې تخم .

لغت	غزل	معنی
ج : جو غه دار	۳۷	تاج لر ونکی ، اکلیل لرونکی
چ : چلقت		زغره ، زره
ح : حبه	۱۰۱	دانه
د : دغا	۱	تګ وتګمار ، چالباز
ر : راج	۳۰	واکمني ، دواکمنی خیال ساتل
ز : زیب	۳۶،۲۲	وخکي ، سمیز
زوړ	۳۰، ۴۱، ۷۲، ۷۸، ۹۸، ۱۱۹، ۱۳۲، ۱۵۲	حرام ، نشت، نابود
زیل	۱۴۰	، زنځیر ـ زندان ـ جیل
س: سبیل	۱۸	لار ، طریق
سرسات (سورسات)	۲۵	حواله ، پر رعیت جبری ګول

دخمکي له درکه‌له خپل حق‌څخه زیاته جبری‌غوښتنه.

سنګ خارا	۷	یوه سخته تیږه ده ، بیلا بیل رنګونه لری

داوبو د زیا توالی له امله تجزیه کیږي اوچیني خاوره جوړوی

سیم‌غبغب	۲۴	سپینو زروته ورته دزنی سر
ش : شیانه	۸۱	رسواګوونکی ، خجالت ګوونکی
ص: صراح	۸۲	ښکاره ، څرګند ، جوت
صیهل	۵۸	
ط:		

لغت	غزل	معنی
ظلام	٦	ظلمات ، تیرې (تیارې)
ع :-		
عاج	۳۰	دفیل غا بن.
عنب	۲۴	انگور، کور ، سپلوه
غ :		
غدو د	۳۲	غدې
غربال	۱۳۸	پرو یزی، غلبیل
ف :-		
فاقه	٦	لوږه، ځان و ږیساتل .
فوا که	۱۵۷	میوې
فولیل (فلیل)	۲۹، ۳۱، ۷۸	یوډو ل عطردې .
ق :		
قباح	۷۲	بدې، ناوړ تیا، نا کار تیا، نابود تیا
ک :		
کر کنډه	۸۴	لویه ډبره، خرسنگ
کلاح	۳۲	داو ریځوغونجونه
گ :-		
گانده	۱٦٦	سبا
گر ام	۱۰۸	کلی، ولس، عشیره
ل :-		

لغت	غزل	معنی
لارغه	۱۴۶	مکث، درنگک، تأخیر، ځنډ .
لایجوز	۴۷	هغه څه چې جواز نه لري. ناروا وي
م :-		
ماخوذ	۶۳	نیول شوی
ماوریړی	۱۲۳	.
مرسته	۷۹، ۳۲	لټون، غوښتنه، طلب
مصوت	۱	صوت ایستل، اواز وړکول .
معطي	۱۵	بخښلی، ورکړل شوی .
ملل	۱۳	استوګن کیدل، اړول، اوسیدل .
موکل		تینګار کوونکی.
نجا	۶	نجات، ژغورنه.
نمط	۵۳	روش، طور، طریقه، لار.
ندما	۱۶۱	دوست، مصاحب، مشاور
و :-		
وټ	۸۰	نقص، تاوان
ورع	۱۵	پرهیزګاری، پالیالتوب .
ویسا	۳۹	باور
ویي	۷	خبرې، جملې، تکلم.
ویستلی	۱۴۷	

لغت	غزل	معنی
ه: ـ		
هبه	۱٦۳	بخښل شوی .
هتې	۸۰	ستردکان ، مغازه
همتې	۸۰	.
هنډه	۸۴	ضدیت، برخلافي کول، رده، تصمیم، لوبی او مستی
ی :		
یون	۱٦	رفتار، رحلت.

PROPERTY OF ACKU 2109

Collection of Poetical Works of Habibullah

Published

by

The Academy of sciences of

Afghanistan

1981